# تنکیو ځوانانو او ماشومانو ته فکري کیسي

لیکوال: زاهد جلالي



تنکیو ځوانانو او ماشومانو ته فکري کیسي

لیکوال: زاهد جلالي

د پښتي طرح انجنیر محمد شفیع وردګ

## د کتاب په اړه

د زاهد دا نوی کتاب د داسي یوه ذهنیت زیږی دی چي اسلام د علم سره نه یواځي مخالف نه ګڼي بلکي په دې پروسه کي یې د نړیوالو سره شریک، بلکي سر لاری بولي. کتاب د «شاعر او کاهن» خیالي او غیب ګویي نه بیانوي، نه د مراقبې محصول دی. د یوه معقول او ژور ریسرچ او تدقیق برکت دی. شاګرد هم په عیني را ښعیتونو خبروي او هم ددې واقعیتونو تاریخي سابقه بیانوي چي لکه مرخیړي له خپله اننده نه دی راټوکیدلي، بلکي په پیړیو وربانديي شواخون تیر شوی او مسلمانانو پوره ونډه ورکې لرلي ده او په زیاترو کي مخکښ همدوی ور.

د کتاب ژبه هم عام فهمه او روانه ده چي تنکي ماشومان یې هم په مانا پوهیږي. دا مهمه ده. ما چي د خپل پلار نه د الفبا زده کړه کوله اکثر د هغوی په ژبه نه پوهیدم هسې طوطي وم چي هر شی مې یاداوه، بیا ګرداناوه. جیم لکه جا جا دی من الجول و جا جا .وروسته چي قدوري او هدایې ته شوم، خو بیخي را ته مشکله شوه. پلار مې قاضي و، عالم و خو معلم نه و. کالونه پس چي مې له وروړ نه د مکتب مضامین لوستل، داسي مې یاد دي لکه دا نن. ګیهیځ لالا مې دار المعلمین لوستی و، معلم و .زاهد هم معلم دی، ودې شي چي په ده هم ما وارو تجربې راغلي وي، عبرت یې ترې اخیستی. زلمیه مبارک دې شه . دا د پتي سر دی.

استاد سعد الدین شپون

تنکیو ځوانانو
او ماشومانو ته
فکري کیسې

# تنکيو ځوانانو او ماشومانو ته فکري کيسې

زاهد جلالي

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړنې


**نوم: تنکیو ځوانانو او ماشومانو ته فکري کیسې**

**لیکوال: زاهد جلالي**



**برېښنالیک: zahid.jalaly@gmail.com**



**کمپوز: زاهد جلالي**

**کال: ۲۰۱٤ میلادي**

**ځای: کابل**

**وار: لومړی**

**شمېر: ۱۰۰۰**

**پښتی ډیزاین: انجینیر شفیع وردک**

**خپرندوی: مستقبل خپرندویه ټولنه**



**©ټول حقوق خوندي دي.**



**د ترلاسه کولو پتې:**

لومړی: کابل، کوټه سنګي، د شاداب ظفر بلاکونو ته مخامخ، مستقبل کتابپلورنځی.

شمېرې: ۰۷۸٦٦۳۰۷۳۱ او ۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵

دویم: کابل، دهمزنګ، سرک اول، محب مارکېټ، مرکز کتابفروشي عمومي.

شمېره: ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

# ډالۍ

هغه ماشوم ته چې ماشومتوب یې د ناز و نخرو نه و..

د کوچنیتوب دوره یې د مور و پلار او ټولې کورنۍ له مینې لرې تېره کړه..

نه یې له سیالانو سره سیالي وکړه او نه له تربرو سره تربوري..

وچې شونډې، شلېدلې جامې، تش جېب او تش نس وګرځېد..

یا یې د جواري ډوډۍ وخوړه یا پوپنک وهلې..

مرحوم پلار یادوم.. چې دا هر څه یې د علم له پاره وکړل.. دا هره قرباني یې یوازې او یوازې د پوهې له پاره وکړه..

سل درنښته، دوروده او رحمته پرې..

# لړلیک

تقریظ ۸

مقدمه ۱٤

د ستر امام ګاونډی ۱۸

مثالي ماشوم ۲۵

د نړۍ لومړی پوهنتون ۳۱

د اینستاین فکر کول ۳۸

د غزالي شک ٤۳

یوه تاریخي حادثه ۵۰

د فارابي یوه کیسه ۵۵

د شیطان امتیان ٦۱

ستر هدف ٦٦

په خدای توکل ٧١

دغسې استقامت! ٧٦

د نړۍ لومړی لیکلی اساسي قانون ٨٣

اسلام او موډرنېزم ٨٨

ملتپالنه ٩٥

د يهودو د خيانت تاريخ ١٠١

ښه دوستان ١٠٧

مسلمانان ولې وروسته پاتي؟ ١١٣

د حنفي فقهې درې ستر کتابونه ١١٩

مراجع ١٢٨

د استاد سعد الدين شپون

# تقريظ

ماشومانو، بلکې هر چا ته درس ورکول کم له کمه دوه هدفونه لری. یا به دا وي چې کوم اقدام ته يې هڅوی، لکه ترکاڼي، موټر چلولو، کراټې او دغسې نورو کسبونو ته. بل هدف دومره لنډو چکی او مشخص نه دی بلکې د ماغزو د په کار اچول، د انسان له ما غزو بهر پېښو او واقعيتونو پېژندل دي. په دواړو هدفونو کې مقصد د يوې معمی حل دی. مځکه له لمر نه چا پيره گرځي که بالعکس؟ سره زرغونه ولې اته رنگو نه لري؟ اصلا ولې له بارانه پس ځرگندېږي؟ ماشوم څنگه له موره پيدا کېږي، اصلا بنيادم له کومه شوی؟ په نړۍ کې پخوا څلور عنصره خلکو پېژندل، اوبه، باد، خاوره او اور، اوس ولې

وایي چې تر سلو زیات عنصره دي چې زموږ نړۍ ترې جوړه ده؟ دا او دا سې نور بې شمېره معمی‌ګانې دي چې حل کول یې یواځې په خصوصي مرا قبه نه بلکې له هغه چا څخه زده کېږي چې پرې پوهېږي. مثال د زده کړې لویه سرچینه ده.

په دغې پوهې د نړۍ ټولو خلکو زور وهلی دی. پو هه د هېڅ ملک انحصار نه ده. یو، یوه خښته ږدي، بل پرې بله او د تمدن ماڼۍ همداسې پرې لوړېږي. پوهه نه د ګالیلې په انحصار کې ده نه د اینستاین، نه د فخر رازي. اسلامي نړۍ د دې ماڼۍ په او چتولو کې لویه ونډه لرلې ده. هغه دی نوم یې هم ورپورې دی، الجبر والمقابه اوس د الجبرې په نامه ټوله نړۍ کې د ریاضي یو لوی اصل دی. په هغې کې له مجهولاتو معلوم را اېستل کېږي. موږ ته ماشومتوب کې ملا جزبوت را زده کول او د یادولو له پاره یې نظمونه را ښودل : دح د حن ... جې هغه به مو یاد کړ په اسانه مو د ضرب او جمعې معمی حل کوله. دا طریقه همدا اوس هم انګرېزان د میاشتو د ورځو د معلومولو د پاره استعمالوي: دېرش ورځې دي سبتمبر+ اپریل جون او نوامبر...

دا چې دوی یې آسترولیب بولي هماغه د عربو اسطرلاب دی چې ماڼوګانو به د بېړۍ لار وربانديې موندله. بلکې که اسلامي علماو ترجمې نه واي دوي دا خپل پوهان او فیلسوفان لکه ارستو او افلاتو ن نه شو پېژندلای.

پخوا به په غرب او شرق دواړو کې ډېری حکیمانو خپله پوهه (یا به یې پوهېدل عوامو ته ګران و) پټه ساتله، په ګوښۍ ځایونو کې یې تجربې کولې. نوم یې کیمیاګر و، مس به یې د جستو سره اور کې ویلې کول، مانا سره زر جوړوم. خندا را شي چې د پښتو ژبې وتلي شا عر، حمزه با با هم په ځوانۍ کې کیمیاګر و. پو هه د جادو سره ګډه وه. ختېه به یې د ناروغ په خېټه پورې کړه، په چاقو به یې لیکې وربانديې را ښکلې، ویل به یې چې توری مې دې پرې کړ. ما په خپله د زېړې تبې له پاره د شمه‌کي (کاسني) اوبه څښلې. اوس پوهېږم چې په هغې کې کیو نابن ماده وه، ځکه خو موږ وروسته د ملاریا د تبې د پاره د کونین په نامه ګولۍ خوړلې خو ټوټکه یې ورسره ګډوله چې درې شپې به یې د بام په سر ستوري ته ږدې. ملا به د سترګو ګل داسې لرې کاوه چې د وربشې دانه یې سترګو ته درته لره بره کوله، څه اوراد یې ویل، بیا یې له اوبو ډکې پیالې کې اچوله. چې بوربوکۍ په

اوبو کې ورپورې ولګېده نو ویل به یې چې دا دی ګل راووت. زما یوه هوښیار همزولي یوه ورځ پیاله له اوبو ډکه کړه، یوه دا نه وربشه یې زما سترګو ته لر و بره کړه او خپل جوړ کړی اوراد یې تېر کړ: خر به په وربشو مري زه به په دانه، همدا یې ویل او وربشه یې پیالې ته ګوزار کړه. زما د حیرانۍ دې وه چې بړبوکۍ مې لېدې چه د وربشې په دا نې پورې نښلي.په اول سرکې ساینس، تجربه، کوډې او جادو په ټوله نړۍ کې سره ګډ او غټمغه تول وو. دېوان وو چې یو غر یې په بل ویشت، پېریان وو چې د یارانو د بنډار له پاره یې د سترګو په رپ کې له غزني غوړي راوړل. زموږ د آس ورږ (یال) تر هغې پېریانو د شپې او بده چې ما په خپله ملا ماما و لېد په او بدلو یې لګیا دی. نور یې له اورېدو وایي خو زه یې له تجربې وایم چې څو څو ځلي د مار لړم د هودې سره سره قریب مړ شوی وم. ابا مې په دې حالت هم د ډاکټر په ځای پاړو ګرته بوولم.

دا د ملایانو یا نورو مشرانو کومه دسیسه نه وه، بلکې هغه وخت د معمی د حل کولو طریقې همداسې د علم، تجربې، خرا فاتو ګډو له وه. د کفر او اسلام خبره نه وه، د تمدن او مادي پر مختګ مرحله همدا وه. نو مولوي صاحب خالص "رح" ته اریان شوم چې څلوېښت

کاله دمخه یې سپوږمۍ ته د بنیادم د ختلو خبره نه ردوله، حال دا چې زموږ د کلي ملا نژدې په دې خبرې باندې تکفیر کړی وم. هغه ویل چې آسمان کې ملایکې دي، هغوی یې په کاڼو ولي. هغه دې خدای وبښي، که ژوندی وای، کمپیوټر یې لیدلی وای چې غونډ قران ورکې لیکل شوی سکته یې کوله. اوس یې گز کړه:

ښه مثال یې چې زاهد جلالي ته مې تر اوسه حال نه دی ویلی دا دی چې ما اکثر کمپیوټر چلونه له همده او نورو هغو یارانو نه یاد کړي چې په دیني مدرسو او پوهنتونونو کې برحال محصلین یا استادان دي.

د زاهد دا نوی کتاب د داسې یوه ذهنیت زېږی دی چې اسلام د علم سره نه یواځې مخالف نه گڼي بلکې په دې پروسه کې یې د نړیوالو سره شریک، بلکې سر لاری بولي. کتاب د «شاعر او کاهن» خیالي او غیب گویۍ نه بیانوي، نه د مراقبې محصول دی. د یوه معقول او ژور ریسرچ او تدقیق برکت دی. شاگرد هم په عیني وا قعیتونو خبروي او هم د دې واقعیتونو تاریخي سابقه بیانوي چې لکه مرخېړي له خپله انده نه دی راټوکېدلي، بلکې په پېړیو وربانديې شواخون تېر

شوی او مسلمانانو پوره ونډه ورکې لرلې ده او په زياترو کې مخکښ همدوی وو.

د کتاب ژبه هم عام فهمه او روانه ده چې تنکي ما شومان يې هم په مانا پوهېږي. دا مهمه ده. ما چې د خپل پلار نه د الفبا زده کړه کوله اکثر د هغوی په ژبه نه پوهېدم هسې طوطي وم چې هر شی مې ياداوه، بيا گرداناوه. جيم لکه جا جا دی من الجول و جا جا. وروسته چې قدوري او هدايې ته شوم. خو بيخي را ته مشکله شوه. پلار مې قاضي و، عالم و خو معلم نه و. کالونه پس چې مې له ورور نه د مکتب مضامين لوستل، داسې مې ياد دي لکه دا نن. گهيځ لالا مې دار المعلمين لوستی و، معلم و. زاهد هم معلم دی، ودې شي چې په ده هم ما وارو تجربې راغلی وي، عبرت يې ترې اخيستی.

زلميه مبارک دې شه . دا د پټې سر دی.

سعد الدين شپون

واشنگټن

# مقدمه

د مراهقت دوره له لس کلنۍ تر اتلس کلنۍ، یا له اته کلنۍ تر اتلس کلنۍ، همدغو عمرونو ته ویل کېږي. دا هغه دوره ده چې انسان په کې روزل کېږي. که ښه وروزل شو، ټول ژوند به یې ښه وي او که نه، ټول عمر به ناسم وي. دغه ښه توب یا ورانی نه شي بدلېدای، که بدل هم شي، ډېر باریک او سرسري بدلون وي، چې اصلیت ته د راګرځېدو امکانات یې ډېر وي.

دا چې افغانستان کې هر څه ګډوډ شول، علمي بهیر یې هم سخت متضرر کړ. دغه ضرر عمومي و، هم وړکتون وران شو او هم پوهنتون. نه د مراهقت دورې ته پاملرنه وشوه او نه نورو ته. په افغانستان کې د شخصیت جوړېدو سلسله هم ورو شوه. کوم افغانان چې علمي

شخصیتونه جوړېږي، یا د باندې اوسېدلي او یا هم د خپلو هڅو په نتیجه کې دي چې د پام وړ سختۍ یې ګاللي.

نو کوم کسان چې خپله هڅه کوي له هغو به علمي شخصیتونه جوړ شي چې دا هم د ګوتو په شمار دي، خو د دغو شخصیتونو ذهنیتونه علمي نه وي، ځکه د مراهقت په دوره کې یې ذهنیتونه علمي شوي نه دي. نو په نویو شخصیتونو کې داسې کسان لږ دي چې ذهنیت او عقلیت یې علمي وي.

نن سبا چې افغانانو د خپل فرهنګ‌پال او علم‌پال احساس له مخې د لیکلو او لوستلو علمي بهیر څه نا څه ژوندی ساتلی، ځینو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته کتابونه لیکلي، چې دا ښه او د ستایلو وړ کار دی او لیکوالان یې باید وهڅول شي، مګر کابو ټول کتابونه غیر علمي دي.

د دې له پاره چې افغان ځوان لوستل وکړي او دا لوستل علمي وي، دغه کتاب لیکلو ته مو زړه ښه کړ. دغه کتاب کې څو هدفه په نظر کې نیول شوي. لومړی دا چې په تنکیو ځوانانو کې د لوستلو فرهنګ عام شي. ستر مشکل چې موږ ورسره مخ یو هغه د هر انسان د سویې مطابق لیکل دي. موږ چې ماشومان وو، مشرانو به راته د سترو

مفکرینو د کتابونو د لوستلو سپارښتنه کوله، خو هغه وخت کې موږ نه د دغسې سترو کتابونو د لوستلو تلوسه لرله او نه مو ترې څه اخذ کولای شوای، ځکه د سترو مفکرینو مخاطبین هم ستر خلک وي. چې ماشوم هغه فکر نه شي درک کولای.

دویم هدف دا دی چې ماشوم داسې څه ولولي چې ګټه ترې واخلي، نه دا چې یوازې د لوستلو اړخ ته ځیرنه وشي او د فکر او فهم اړخ هېر شي. په دغه کتاب کې داسې کیسې دي چې د ماشوم په فکري روزنه کې هم مؤثرې واقع کېدای شي. لکه د امام ابو حنیفه د اخلاقو مثال، د اسلامي فیلسوفانو په هکله عجیبې کیسې، د اسلامي تاریخ یادونه، د غربي پرمختګ مثالونه او داسې نور.

د دغو دوو هدفونو تر څنګ دا هم په نظر کې نیول شوي چې ماشوم فکر کولو ته وهڅوي او ورسره یې لیکلو ته لاره خلاصه کړي. په دې هیله چې زموږ اهداف لاسته راوړل شي.

استاد سعد الدین شپون په کتاب تقریظ لیکلی دی. نه یوازې د تقریظ له پاره یې، بلکې د هڅونې او استادۍ ډېر احسانانونه یې رابار دي. ډېر زیات مننداوی یې یم او هیله من یم چې رب ډېر عمر او د لا ډېر خدمت توفیق ورپه برخه کړي.

ډاکټر خالد حاتم، استاد عبد الله گل ریان، استاد همایون غفوري او ځینو نورو ورونو کتاب وکوت او خپل استادانه نظرونه یې ولورول، له ټولو مننه کوم او له ربه ورته د اجر غوښتونکی یم.

همدا رنگه له استاد اسد الله مشفق ډېر منندوی یم چې تل یې علمي او فکري کار ته هڅولی یم، په ځانگړې توگه په دې چې کابل کې د همدغه کتاب لیکلو په مهال یې د انټرنټ زمینه مساعده کړه او د مصادرو د لاسرسي په لار کې یې د پام وړ مرسته و لاسنیوی وکړ.

گران دوست انجینیر شفیع وردک صاحب چې د کتاب پر پښتۍ یې ډېره خواري کړې او په ښکلې بڼه یې ډیزاین کړی، ډېره مننه ترې کوم.

په پای کې له ټولو هغو دوستانو مننه کوم چې د دغه کتاب په لیکلو کې یې هره وړه او غټه مرسته کړې وي، رب دې د دنیا او آخرت نعمتونه ورپه نصیب کړي.

زاهد جلالي

۲۰۱۳/نومبر/۲۳

اسلام آباد، پاکستان

# د ستر امام ګاونډی

زموږ د حنفي مذهب بنسټګر امام ابو حنيفه چې په امام اعظم –يا ستر امام- يادېده، يو له حکيمو انسانانو و. په فقه کې د هغه اوچت اجتهادونه تر ننه پورې ډېرو فقهاو ته د لارې مشالونه دي. ډېری کسان د هغه ستر عقل ته حيران وو چې سخت او دقيق مسايل يې څنګه په آسانۍ او فقهي لارې حلول.

د ستر امام په ژوند کې ډېرې داسې کیسې دي چې عالم ته د فقهې، داعي ته د ښو اخلاقو، صوفي ته د عبادت او عادي مسلمان ته د



اسلامي اخلاقو اوچت درسونه ورکوي. راځي د ستر امام یوه په زړه پورې کیسه په ګډه ولولو:

په څلورو سني مذاهبو کې د حنفي مذهب مؤسس ستر امام ابوحنیفه به د شپې په تجهد او عبادت بوخت و او د کور له ګاونډه به یې د شرابي غږ ډېر تنګاوه. شرابي ګاونډي به یې د نشې په حال کې

په ډېر بد او اوچت غږ سندرې ويلې چې ستر امام به يې ډېر په عذاباوه. د شرابي مېرمنې به تل راتله او ورته به يې ويلې چې د ستر امام گاونډی يې، که له بل چا نه شرمېږې، له ده خو حيا وکړه !خو شرابي به تل لاوبالي ځواب ورکاوه او خپلو سندرو ته به يې ادامه ورکوله.

د امام ابو حنيفه مېرمنې به ورته ويلې چې دی خو تا ډېر تنگوي. له خدای سره خبرو او عبادت ته دې آرام نه پرېږي، يو غم يې بايد وخورې. خو امام به تل په دې ټينگار کاوه چې زه دعا ورته کوم، خدای به يې نېکې لارې ته برابر کړي. امام به تل د شرابي د سندرو له اورېدو سره موسکی کېده، خو کله چې به په لمانځه ودرېد، دومره به له خدای سره په خبرو کې ډوب شو چې د شرابي خشن غږ به يې بيخي نه حس کاوه !

د امام شرابي گاونډي کار پرې ايښی و، په کور پروت و او تل به يې په شراب څښلو او بې فکرۍ وخت تېراوه. امام د دې پر ځای چې حاکم ته وړانديز وکړي چې له شرابي گاونډي يې -چې تل خلکو ته مزاحمت کوي- خلاص کړي، د شرابي د کور کرايه هم له خپله جېبه ورکوله !

دوه شپې امام د تهجد او عبادت په مهال د شرابي غږ وانهورېد، نو اندېښمن شو چې خدای مه کړه ناروغ شوی نه وي! امام خپلې مېرمنې ته امر وکړ چې د شرابي له مېرمنې یې د حال پوښتنه وکړي. مېرمنې یې ورته وویل چې دوه ورځې کېږي چې له کوره وتلی او لا یې احوال نه شته چې چېرته دی، نو مېرمن یې هم اندېښمنه او ناروغه ده.

امام چې له دې حادثې خبر شو، ډېر غمجن شو چې ولې مخکې نه دی خبر شوی، نو خپل شاګرد ابو یوسف ته یې امر وکړ چې پلټنه یې وکړي چې څه پرې شوي او چېرته دی؟

ابو یوسف له ګرځېدو او پلټنې وروسته معلومه کړه چې شرابي د نېشې په حالت کې له کوره وتلی او د شپې پولیسو نیولی دی. امام د دې خبر له اورېدو سره ډېر غمجن شو او ابو یوسف ته یې وویل چې امیر ته ورځو او ورنه هیله کوو چې آزاد یې کړي. ابو یوسف له دې سره سره چې تعجب یې وکړ چې امام یوه ورځ هم د امیر غوښتنه ونه منله او ملاقات ته یې حاضر نه شو او نن د یوه شرابي د خلاصېدو له پاره ورځي، ورسره لاړ.

امام له خپل شاګرد ابو یوسف سره امیر ته ورغی. امیر ډېر خوښ شو او امام ابو حنیفه د احترام له پاره یې ټول هغه زندانیان چې د شرابي ګانډي له بندي کېدو سره بندي شوي وو، آزاد کړل او شرابي ګاونډي ته یې څه پیسې هم ورکړې. د امام ګاونډي چې د ستر امام اوچت اخلاق ولیدل، په ژړا شو او په خپلو کارونو سخت پښېمانه، همالته یې له امام سره وعده وکړه چې توبه به وباسي. له دې سره یې امام ته وویل چې نصیحت ورته وکړي. امام ورته وویل چې جهاد وکړه. ده هم په ډېره خوښۍ ومنله چې د خدای په لاره کې به تر شهادته جهاد کوي، خو امام ورته وویل د کورنۍ له پاره نفقه پیدا کول هم جهاد دي او دی دې همدا جهاد وکړي !

شرابي په داسې حال کې چې ژړل یې، د امام په ګاونډیتوب یې ویاړ کاوه، د توبې له وعدې سره له امامه رخصت شو.

## درسونه

- د امام ابو حنیفه او شرابي ګاونډي په دغه کیسه کې وینو چې ستر امام څومره صبر کاوه. هغه غوښتل ګناه په ډېره ښه او بریالۍ لار منع کړي.

- امام تر هر څه دمخه د شرابي د اصلاح له پاره دعا وکړه او بیا یې په دومره ښه طریقه اصلاح ته راوباله چې آن ګناهکار له شرمه ونه شو کولای ګناه ته ادامه ورکړي.

- بله دا چې د امام ابو حنیفه له حاکم سره څنګه تعامل کاوه؟ امام خپلو شاګردانو ته ویل چې له حاکم سره داسې تعامل کوئ لکه له اور سره. مه دومره ورنږدې کېږئ چې ومو سوځوي او مه دومره ترې لرې کېږئ چې چې ترې استفاده ونه شې کړای.

- له دې لنډې کیسې مو په ټولنه کې د امام د ژوند طرز هم زده کړ. په کیسه کې لولو چې امام به د شپې په عبادت او نفلونو بوخت و او د ورځې به یې له روژې سره نور کارونه هم کول. امام ابو حنیفه له خپل داسې ګاوندي سره چې هره شپه به یې عبادت کې مزاحمت کاوه، داسې تعامل کوي چې د کور کرایه او نفقه یې ورکوي او کله چې یې غږ نه اوري، پوښتنه یې کوي چې څه پرې شوي او څنګه دی!

دا و د ستر امام اوچت اخلاق او عالي روزنه !

**ګرانو لوستونکو!**

**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# مثالي ماشوم

د انسان په ژوند کې لوړې ژورې راځي، ډېر داسې شته چې د مشکلاتو په مقابل کې د غمې له جاله هم کمزوري دي. خو ځینې مقاومت کوي او نه پرېږدي چې د مشکلاتو څپه يې د ژوند کښتۍ ډوبه کړي. چې لرې لاړ نه شو، په کابل ښار کې ډېر در په دره ماشومان شته چې عزم او غیرت يې له غرونو دنګ او له الماسو ځواکمن دی. راځئ د دغه ښار يو د يوه مظلوم ماشوم د ژوند و عزم په اړه يو څه ولولو.


عتیق الله د کابل ښار ماشوم اوسېدونکی دی. لس کلن دی او د څلورم ټولګي زده کوونکی. ښايي ډېری داسې ګومان وکړي چې

ماشومانه ژوند به لري. په ناز و نخرو به ښوونځي ته ځي او پاتې ورځ به په لوبو او خوښۍ تېروي. خو داسې نه ده. دغه لس کلن ماشوم د څلوېښت کلن ځوان په څېر له مسؤولیتونو ډک ژوند لري. خو آن له ډېرو څلوېښت کلنو په خپل ژوند او زده کړه کې بریالی دی.

عتیق الله سهار وختي مور له خوبه پاڅوي، یو سپېره چای څښي، خپل کوچنی سپین خو په تورو رنګونو ککړ بکس ګوتې اخلي او د ښار په لور خوځېږي. په ښار کې هر چا ته د بوټونو د رنګولو ستونه کوي. څوک چې بوټان ورکړي، په خوښۍ یې رنګوي او لس روپۍ ترې اخلي، خو ځینې داسې کسان هم شته چې په یو وار ست کولو ورته برګ برګ ګوري او منفي ځواب ورکوي.

دغه کوچنی ماشوم تر لس بجو د بوټونو رنګولو په تکل هر چا ته مخه کوي، خو له لسو وروسته دغه کار پرېږدي او خپل ښوونځي ته ځان رسوي.

ستړی ماشوم کتابونه او کتابچې وباسي او ښوونکي ته ځير ناست وي، چې لوست زده کړي. تر دولسو بجو ښوونځي کې زده کړې کوي. له دولسو وروسته بيا له ښوونځي وځي او تر ماښامه له يوې ځلور لارې بلې ته، له يوه سړکه بل ته او له يوه بازاره تر بله د بوټونو رنګولو په تکل د هر چا بوټ ته ځيرنه کوي او د ځو افغانيو د لاسته راوړلو له پاره ستړی ستړی ګرځي.



عتيق الله چې پلار يې کلونه وړاندې وفات شوی دی، ماښام هغه پيسې خپلې مور ته ورکوي چې د خلکو د بوټونو د رنګولو په مقابل کې يې تر لاسه کړي. د دغه ماشوم د رنګولو په پيسو يې د خپل او

کوچني ورور د ښوونځي اړين وسايل او د کورنۍ د خوړو مواد هم رانيسي.

دغه ماشوم د کابل د ښار د زرګونو بې سرنوشته ماشومانو له جملې يو دی. که څوک آن ماښام هم باغ بالا ته لاړ شي، عتيق الله ته ورته ډېر ماشومان ليدلای شي چې د ښوونځي بکسه پر شا د خلکو د بوټانو د رنګولو په مقابل کې د خپلې کورنۍ لګښت لاسته راوړي. نه يوازې باغ بالا کې بلکې د ښار په هره سيمه کې عتيق الله ته ورته په سلګونو او زرګونو ماشومان ليدل کېږي چې د ځلا دارو ودانيو لاندې د خلکو خړ بوټونه لټوي.

يو وار د ويسار ورځپاڼې له دفتره راووتم او د کارته پروان په څلور لاري کې د کرايي موټر په انتظار ولاړ وم. يو تونس موټر راغی او مخکېنې سيټ کې د موټروان څنګ ته کېناستم. موټروان له څېرې ۲۲-۲۳ کلن او له جامو محصل ښکارېده. په خبرو کې يې راته وويل چې شپږ کاله وړاندې د کور مسؤوليت راپه غاړه شو. ما د موټر کلينري شروع کړه او خپل تعليم ته مې دوام ورکړ. اوس د تونس موټر څښتن يم او د انجينيري د پوهنځي د څلورم سمستر محصل. همدارنګه له کشرانو وروڼو او کورنۍ سره آرام ژوند لرم.

دغه ځوان راته ویل چې د شپې چې کور ته لاړ شم، نه د خبرو کولو وسه راکې وي او نه د اورېدو. سمدستي ویده کېږم. بیا د شپې درې بجې له خوبه پاځېږم او درسونه تکراروم. دغه موټروان چې له ماسره یې آشنایي پیدا کړه او د فېسبوک حسابونه مو هم سره واخیستل، راته یې ویلې چې د کار پیل ډېر ستونزمن وو خو اوس چې تقریبا آرام ژوند لرم، له تېرو یادونو خوند اخلم او د ښه راتلونکي په تمه یم.

## درسونه

- د انسان ژوند له سختیو سره مل وي، کله دغه مشکلات مخکې راشي او کله وروسته، کله لږ وي او کله ډېر؛ خو انسان باید له ستونزو سره مقاومت وکړي، نه دا چې په ځان باور وبایلي او ناکامي قبوله کړي.

- که څوک په ځان اعتماد وکړي او د خدای په مرسته یقین، خدای یې مرسته کوي. که کوچنی هم وي ستر کارونه کولای شي.

- انسان په پوهه او زده کړه انسان دی. پوهه انسان ته د انسانيت. . درسونه ورکوي، که مشکلات څومره ډېر وي انسان بايد تعليم ته له بل هر څه په اوچته سترګه وګوري.

- له هر انسان سره عموما او له مجبور او کارګر انسان سره خصوصا بايد ښه او نرم تعامل وشي. مسلمان بايد تل له بل سره د مرستې فکر ولري.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ ليکنې له لوستو وروسته يې په هکله يوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې يې وليکئ.

# د نړۍ لومړی پوهنتون

په پخوا زمانو کې مسلمانانو له علم سره زښته ډېره مینه وه. نهمه میلادي پېړۍ یو له هغو پېړیو دي چې مسلمانانو په کې علم ته ډېر کار کړی. په همدې پېړۍ کې مسلمانانو یوناني فلسفې ته مخه کړه. یوناني فلسفه یې عربي ته وژباړله، ځانونه یې پرې وپوهول او شرحې او نقدونه یې پرې ولیکل.

د عباسیانو په دور کې، د هارون الرشید په حاکمیت کې مسلمانانو په بغداد کې یو ستر علمي مرکز د بیت الحکمت -یا د فلسفې کور - په نامه جوړ کړ.

دغه ستر علمي مرکز د نړۍ په تاریخ کې لومړی پوهنتون شمېرل کېږي. یاد علمي مرکز ځانګړې ودانۍ لرله، شاګردان، استادان، څېړونکي او ژباړونکي په کې وو او د پوهنتون منسوبینو ته به ډوډۍ هم ورکول کېده.

د پوهنتون د دوه پوړیز تعمیر په لومړي منزل کې کتابتون و، د ژباړې برخه هم دلته وه او ورسره د زده کړې او مطالعې ځای هم و. دویم منزل کې څېړونکي، استادان او کارکوونکي اوسېدل.

ابو جعفر المنصور چې د پوهنتون مؤسس او مشر و، له علم سره یې بې سارې مینه وه، نو بیت الحکمت یې ډېر خوښ و او زیات خدمت به یې کاوه. د دغه پوهنتون د غني کولو له پاره یې له روم نه وغوښتل چې دوی ته د طب، هندسې، حساب او فلکیاتو کتابونه واستوي څو عربي ته یې وژباړي.

د عباسي خلفاو په زمانه کې د حکومت مشرانو دغه علمي مرکز ته زښته ډېره پاملرنه کوله. کله چې به فتوحات وشول، د مختلفو ځایونو کتابتونونه یې بیت الحکمت ته رانقل کړل او د ساتنې له پاره یې ډېر توجه کوله.



بیت الحکمت کې استادانو درسونه ورکول، علماو تحقیقونه کول او
د یونان فلسفه عربي کېده.

الکندي چې په اسلامي فلسفه کې د پام وړ ځای لري، د پوهنتون مشر فيلسوف بلل کېده. هغه په يوناني فلسفې ځان پوه کړی و. ورسره ډاکټر، رياضي پوه، جغرافيه پوه، موسيقي پوه او فلک پوه و. نو په خپل مسلک کې يې بلا ډېر کتابونه ليکلي وو او له ځانه وروسته نسل ته يې ستره فکري او فلسفي خزانه پرېښوده، چې په وروستيو فيلسوفانو کې يې اثر ښکاره دی، خو متاسفانه د هغه ډېری ليکنې لمنځه تللي او چې شته هم، ډېری يې په يوناني ژبه دي چې هر څوک پرې نه شي پوهېدای.

کله چې مسلمانان له علم سره مينه لرله او ستر علمي مرکزونه يې جوړ کړل، دغو سترو علمي مرکزونو پايله ولرله. له دې وروسته داسې فلسفيان پيدا شول چې تاريخ يې مثيل نه و ليدلی. ابن سينا، ابن رشد، فارابي، غزالي او فخر الرازي په څېر ستر علامه ګان او فيلسوفان د ياد علمي مرکز له تاسيسه وروسته ښکاره شول.

د يادو نوابغو په ژوند کتابونه ليکل کېدای شي او د فکر و فلسفې د درک له پاره يې ستر علمي ذهن ته اړتيا ده، چې دا يې د ليکلو مجال نه دی.

بیت الحکمت پوهنتون په خپلې علمي ورکړې شرق او غرب وځلاوه. دغه ستر علمي مرکز تر ۱۲۵۸م کال پورې ډېر خلک وروزل، بالآخره د مغول وحشیانه حملې دغه مرکز هم متضرر کړ. بیت الحکمت چې تقریبا درې لکه کتابه لرل، ډېره برخه یې د مغولیانو په حمله کې ورانه شوه.

ویل کېږي چې کله چې د مغولیانو د بیت الحکمت کتابونه د دجلې سیند ته وغورځول، ټول سیند د کتابونو په رنګ تک تور شو.

پر عراق د امریکا له حملې مخکې په بغداد کې د بیت الحکمت په نامه یو مرکز جوړ شو، خو عینا د دغه هدف له پاره نه و. دا چې امریکې په عراق حمله وکړه او یو وار بیا یې مغولي وحشت تازه کړ، هیله نه وه چې دغه مرکز دې د تېر مرکز په څېر بیا وځلېږي، چې همداسې وشول.

# درسونه

- په پورتني کيسه کې مو ولوستل چې مسلمانان د تاريخ په يوه دور کې د پوهې او علم نمونې وې. کله چې مسلمانانو علم ته مخه کړه او يوناني فلسفه يې وويله او فکر يې وکړ، لا مثاله شخصيتونه په کې راوټوکېدل.
- که مسلمانان د بيت الحکمت په څېر علمي مراکز او پوهنتونونه جوړ کړي، تېر تاريخ بيا تکرارېږي.
- مسلمان د کافر له پوهې ګټه پورته کوي. مسلمان هېڅ کله له علم سره دښمني نه کوي.
- د اسلام دښمنان نه غواړي چې مسلمانان پوه اوسي، ځکه خو هر وار دوی علمي مراکز لمنځه وړي او مسلمان مفکرين او فيلسوفان وژني او ليکنې او کتابونه يې سوځولي.

**ګرانو لوستونکو!**


**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# د اینسټاین فکر کول

زموږ ډېری خلک په دې باور دي چې فکر که وشي ښه ده او که نه پروا نه کوي. خو داسې نه ده. فکر اړتیا ده او باید وشي. ځکه فکر د نوښت لومړی شرط دی او د نننۍ نړۍ ستر او کوچني اکتشافات ټول د فکر په پایله کې رامنځ ته شوي. هر مخترع او هر مکتشف چې ګورو، فکر یې کړی بیا یې داسې نظر ورکړی چې ټولو خلکو منلی او یو ثابت قانون جوړ شوی.

د نن ورځې موټر، الوتکه، طبي ماشینونه، د دوا جوړونې کمپنۍ، اوچت تعمیرونه، مریخ ته سفرونه او نور هر ستر او کوچني وسایل چې په خپل شاوخوا کې وینو، د ژور فکر په نتیجه کې رامنځ ته شوي

دي.



د همدغه ژور فکر اړتیا ده چې قرآن هم انسانان فکر ته هڅوي. قرآن د فکر کولو په هکله په مختلفو الفاظو کې یادونه او امر کړی. ډېر کله قرآن د تعجب په انداز کې سوال کوي چې آیا تاسې فکر نه کوي؟ قرآن د فکر مفهوم په مختلفو الفاظو وړاندې کوي. د عقل، فکر، نظر همدارنګه د بصیرت او نورو الفاظو کې د فکر په هکله انسان متوجه کوي، چې دا د فکر کولو اهمیت او ضرورت ښکاره کوي.

بله خوا غربي نړۍ چې څومره مخکې شوې، د فکر کولو له عصره وروسته یې دا دوره پیل شوې. هلته د فکر کولو ډېرې نمونې شته.

شلمه پېړۍ کې البرټ اینستاین د فکر کولو یو بې بېلګې مثال دی، چې ستر فکر یې ډېر څه نړۍ ته ډالۍ کړي.

د البرټ اینسټاین د فکر کیسې ډېرې دي. دلته یې هغه راخلو چې د هغه ژور فکر کول په کې ښکاري:

البرټ اینسټاین خو یو پېژندل شوی فزیک پوه او فیلسوف و. ټولو خلکو پېژانده. یو وار له پوهنتونه راوتلی و او په رېل ګاډي کې ناست و. اینسټاین په فکر کې ډوب و. دې وخت کې د ټکټونو مسؤول راغی چې وګوري ټول خلک ټکټک لري او که نه. ټولو خلکو ټکټونه راوویستل البرټ اینسټاین هم غوښتل خپل ټکټ راوباسي. خو د ده ټکټ پیدا نه شو. د ټکټونو مسؤول ورته وویل چې موږ ټول تا پېژنو او زه په دې باوري یم چې تا ټکټ اخیستی او غلا نه کوې.

له دې خبرې سره د ټکټونو مسؤول د ریل بلې برخې ته واوښت او هلته یې ټکټونه وکتل. بېرته چې د اینسټاین برخې ته راغی، ګوري چې اینسټاین لا هم د ټکټ په لټون بوخت دی. مسؤول ورته وویل چې ما خو درته سپینه کړه چې ستا ټکټ نه غواړم او زه دربانديې باوري یم. . ته بیا هم ولې خپل ټکټ لټوې؟

اینسټاین ورته وویل چې زه پوهېږم چې زه څوک یم او ته په ما د غلا شک نه لرې، خو له ما هېر شوي وو چې د کوم ځای ټکټ مې

اخیستی او چېرته روان یم. زه غواړم ټکټ وګورم چې پوه شم چې چېرته روان یم!

البرټ اینسټاین تل ژور فکر کاوه. آن که پر لار به هم روان و، دی به په فکر بوخت و. د نسبیت در نظریې په وړاندې کولو سره په نړۍ کې ستر علمي بدلونونه راغلل. ویل کېږي چې د دغه نظریه هم اینسټاین په داسې حال کې درک کړې چې له ملګري سره په عادي حالت کې و. هغه چې به کله هم په ریل ګاډي کې سورېده، یا به کوم بل کار کاوه، فکر به تل ورسره مل و. څوک چې د یادې نظریې پایلو ته د رسېدو حالات مطالعه کړي، د اینسټاین د ژور فکرې ډېرې کیسې به ولولي.

## درسونه

- فکر کول ډېر ضرور دي. همدا فکر دی چې په پایله کې یې ستر اکتشافات او اختراعات رامنځ ته شوي دي.
- اسلام هم د فکر په کولو امر کوي او فکر کول د مسلمان فریضه ده.

- البرټ اینسټاین ډېر فکر کاوه، همدا لامل و چې داسې نظریات یې وړاندې کړل چې د نړۍ لید یې بدل کړ.

- خو یوازې فکر هم نه دی کافي. موږ باید د فکر علمي کولو له پاره کتابونه ولولو او له پوهانو علم زده وکړو.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# د غزالي شک

امام غزالي د هغو سترو امامانو له جملې دی چې هر اړخیز شخصیت یې لاره. هغه د علم او حقیقت ډېر شوقي وو، نو د علم په لاسته راوړلو کې هېڅ کله نه و خسته شوی او ځان یې حقیقت ته رسولی. هغه د خپل عصر ډېر علوم لاسته راوړي وو. د هغه نبوغ ډېر علما ترې متاثر کړي دي. راځئ د دغه امام د ژوند او پلټنې په هکله ولولو!

امام ابو حامد محمد بن محمد بن محمد الغزالي په کال ۱۰۵۹ میلادي کې د خراسان د طوس په سیمه کې زېږېدلی. غزالي لا ماشوم و چې پلار یې وفات شو. پلار یې وصیت کړی و چې د ده له

وفاته وروسته به یې صوفي ملګری د زامنو روزنه په غاړه اخلي. د پلار د وصیت مطابق یې د پلار صوفي ملګري د غزالي- او ورور یې احمد -روزنه په غاړه واخیسته. نو روزنه یې په زهد او تصوف پیل شوه.



غزالي له ماشومتوبه ډېر زیرک او هوښیار و. خپله وایي چې له ماشومتوبه مې د حقایقو له درک سره زښته ډېره مینه وه. بلکې له مینې زیات داسې عادت مې و چې له درکه یې پرته زړه نه ډاده کېده.

د غزالي دغه فکر و چې په وروستیو کې یې په فقه او فلسفه کې نوښتونه رامنځ ته کړل. دی لا ځوان و او امام الحرمین- چې د غزالي استاد و- ژوندی و چې په اصول الفقه کې یې لومړی کتاب ولیکه. د غزالي دغه کتاب دومره ښه او عالمانه لیکل شوی و چې امام جویني ورته وویل چې زه دې ژوندی خښ کړم، کاشکې دې زما تر مرګه صبر کړی وای!

غزالي په خپل نوښتګر فکر د امام شافعي د فقهې لورى بدل کړ. د امام شافعي فقه کې یې ډېر نوي اضافیات راوستل. د اسلامي شریعت د مقاصدو په هکله هم امام غزالي مهم بحثونه ولیکل چې وروستیو پوهانو داعلم پراخ کړ. همدارنګه غزالي په اسلامي فلسفه کې نوښتګر فیلسوف بلل کېږي.

د غزالي په هکله مو وویل چې د حقایقو پلټنه یې کوله. هغه له ځان سره وویل چې دینونه ډېر دي او هر یو د حق دعوه کوي. همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول مطابق اسلام هم ډېرې فرقې لري او هره فرقه د دې ادعا لري چې حق له دوی سره دی او دوی ناجي-د دوزخ له اوره بچ شوې -ډله ده. هغه ویل چې په دې ډنډ کې ډېر خلک په دې ګومان غرق شوي چې په حق ولاړ دی. هغه په دې نظر و چې دی باید هغه ډله پیدا کاندي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نجات موندونکې بللې. نو هغه شکي وو چې کوم یو به حق وي او کوم باطل؟

امام غزالي وایي چې د خپل شک د لرې کولو له پاره مې ډېر څه ولوستل خو زما شک په یقین بدل نه شو. بیا تصوف ته دننه شوم. دا چې د تصوف پلي کول آسانه نه دي، نو غزالي هم د کتابونو په

لوستلو پیل وکړ. د حارث المحاسبي، ابي یزید البسطامي او ځینو نورو ستر صوفیانو کتابونه یې ولوستل. غزالي وایي چې تصوف علم او عمل دی او په دې باوري شوم چې د آخرت سعادت د دنیا په تقوا تر لاسه کېدای شي.

په دغه وخت کې غزالي د بغداد مشهوري مدرسې "نظامیه" کې په تدریس بوخت و او په یادې مدرسه کې له اوچتو استادانو و. غزالي وایي چې له ځان سره مې ویل چې باید مدرسه او منصب پرېږدم او د خدای په لاره کې ووځم، بیا به شیطان راته ویل چې دومره ستر منصب څنګه پرېږدې !دغه حالت شپږ میاشتې دوام وموند. غزالي په شک او اندېښنه کې دومره ډوب و چې آن ژبه یې بنده شوه او له خبرو پاتې شو.  ورسره یې د هاضمې جهاز هم خراب شو. کله چې یې ډاکټرانو ته مراجعه وکړه، هغوی ورته وویل چې د دې مرض ریښه په زړه کې ده، نو طبي علاج یې نه شته.

غزالي له ځان سره وویل چې د حق د پیدا کولو له پاره باید هڅې وشي. باید هغه مدرسه پرېښودل شي چې دی په کې ستر مقام لري او هر څوک یې درنښت کوي. باید د خدای عبادت شروع کړي څو حقیقي لار ورته وښایي او خپل زړه ته ډاډ ورکړي.

غزالي په داسې حال کې چې خليفه او نور خلک نه وو خبر، بغداد پرېښود او د شام په لور رهي شو. په شام کې دوه کاله پاتې شو او په دغه دوه کلونو کې د خدای له عبادته پرته په بل څه نه و بوخت. امام غزالي وايي چې ذکر مې کاوه او د صوفيانو کتابونه راسره وو. ټوله ورځ به د شام د جومات منارې ته ختلم او ور به مې په ځان پسې بنداوه.

له دې وروسته غزالي بيت المقدس ته لاړ او هلته هم په ذکر او لوستلو بوخت و. په بيت المقدس کې له يوې مودې تېرولو وروسته يې د حج اراده وکړه او ورسره يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيارت مينې ورتلو ته باله. له دغو زيارتونو وروسته خپل اصلي ځای ته رهي شو.

د هغه د شک موده لس کلو ته ورسېده. غزالي وايي چې د ذکر او عبادت په دغه موده کې ما ته حقيقت ښکاره شو او له سترگو مې د ډېرو مخفياتو پرده پورته شوه. دی وايي چې دغه موده کې پوه شوم چې صوفيان د خدای د لارې رښتيني لارويان دي او طريقه يې تر ټولو ښه طريقه ده. د صوفيانو ټول ظاهري او باطني حرکات او سکنات د

نبوت له نوره اخیستل شوی چې له دغه نوره پرته بل نور نه شته چې رڼا ورکړي.

غزالي وایي چې صوفیان په ویښه ملایکې او د انبیاو روحونه لیدلای شي، غږونه یې اورېدای شي او استفاده ترې کولای شي.

په اوسنۍ غربي فلسفه کې د ډیکارټ فلسفه د شک فلسفه بلل کېږي. ډېری پوهان په دې باور دي چې دیکارت په دغه شک کې له امام غزالي متاثر دی.

امام ابو حامد الغزالي په ۱۱۱۱ میلادي کال کې په خپل اصلي وطن- د خراسان طوس نامې سیمه -کې وفات شو. ورور یې د وفات کیسه کې وایي چې یوه ورځ یې د سهار لمونځ وکړ، له لمانځه وروسته یې وویل چې کفن راوړئ. کله چې یې کفن ورته راوړ، ښکل یې کړ او په خپل تندي یې کېښود او ویې ویل "سمعا لامر الملک" یعنې د خدای امر منم، سترګې یې پټې کړې او د تلپاتې نړۍ په لور رهي شو.

# درسونه

- د امام غزالي په ژوند کې ډېر درسونه پراته دي، مهم څه چې له وړوکوالي تر وفاته په کې وينو، د ده فکر او پلټنه ده. امام غزالي هغه عقايد چې له پلاره ورته پاتې وو، په پټو سترګو ونه منل بلکې فکر يې وکړ، شک يې وکړ، تر دې چې ځان يې حقيقت ته ورساوه.
- امام غزالي يو نوښتګر عالم و. د ده نوښت په فقه، فلسفه. . کې ښکاره دی.
- د خدای عبادت او ذکر انسان ته داسې څه ښکاره کوي چې عادي انسان يې نه شي ليدلای.
- امام غزالي بايد مسلمانانو ته نمونه وي او هر انسان هڅه وکړي چې د ده په څېر له درسه ډک ژوند وکړي.

> **ګرانو لوستونکو!**
>
> د پورتنۍ ليکنې له لوستو وروسته يې په هکله يوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې يې وليکئ.

# یوه تاریخي حادثه

اسلامي تاریخ کې داسې ډېرې کیسې شته چې د مسلمانانو عظمت او د مسلمان حاکم د مسؤولیت احساس په کې له ورایه ښکاري. په کوم وخت کې چې د اسلامي نړۍ حاکم مخلص او د کار سړی و، وینو چې مسلمانانو څومره پرمختګ کړی او څومره ځواکمن دي. د اسلامي تاریخ له پاڼو به یوه ښکلې کیسه ولولو چې ډېر درسونه په کې پراته دي:

په دریېمه هجري پېړۍ کې د مامون د زوی معتصم بالله د حاکمیت په دوره کې، د روم پوځیانو یوه مسلمانه ښځه نیولې وه او د زندان په

لور یې کشوله. ښځې د ځان د خلاصون له پاره څوک ونه لید، نو همالته یې معتصم بالله ته نارې کړې او د مرستې غوښتنه یې وکړه.



دغه صحنه یوه مسلمان ولیده. هغه یې سخت دردمن کړ، خو د هغه له لاسه هم څه نه کېدل، مگر دومره یې وکړل، چې د مسلمانې ښځې ناره یې د مسلمانانو تر حاکم معتصم بالله ورسوله.

کله چې معتصم بالله له دې کيسې خبر شو، همالته يې وويل چې ناره منم خورې. معتصم بالله د روم حاکم ته يو ليک وليکه. په ليک کې يې ليکلي وو:

" د مسلمانانو د امير لخوا د روم سپي ته! دغه زنداني ښځه آزاده کړئ، که نه داسې لښکر به درواستوم، چې پيل به يې په بغداد کې وي او پای به يې روم کې!"

د روم حاکم ته د معتصم بالله ليک ورسېد، خو هغه يې ځواب ونه وايه. نو معتصم بالله خپل پوځ تيار کړ او په روم يې بريد وکړ. د جنگ په پيل کې مسلمان پوځ په منجنيقونو کې اورونه اېښودل او د روميانو په لور يې گوزارول. دا وسله په هغه وخت کې د نن زمانې د راکټ په څېر وه چې مسلمانانو په خپل لاس جوړه کړې وه او د دښمن په مقابله کې يې استعمالوله.

د مسلمانانو دغه جنگي تکتيک هغوی ته ډېره ضربه ورسوله او د مقاومت روح يې ترې واخيست. مسلمان پوځ په لومړي وار دغه سيمه د روميانو له واکمنۍ خلاصه کړه.

کله چې مسلمانانو دغه سیمه فتحه کړه، معتصم بالله امر وکړ چې بندي ښځه ورته راولي. پوځیانو غه ښځه ورته راوسته. معتصم بالله له ښځې وپوښتل چې ستا غوښتنه مې ومنله او که نه؟ ښځې ورته وویل :هو او ویاړم چې داسې حاکم لرو، خدای دې پاچاهي اوږده کړه.

## درسونه

- دغه تاریخي حادثه د تاریخ کتابونو په مختلفو روایتونو نقله کړې، خو په ټولو کې وینو چې مسلمان حاکم څومره د مسؤولیت احساس کوي او د یوې ښځې له پاره ټول اسلامي پوځ وباسي او د دښمنانو د ظلم مخه نیسي.
- همدر رنګه لولو چې په دغه وخت کې مسلمانانو د قرآن هغه لارښوونه چې د ځان د تیارولو په هکله ده، په ځان پلې کړې وه او ستر پوځ یې جوړ کړی و. په پوځ کې مسلمانانو داسې تکتیکونه استعمالول چې اغېزه یې ډېره وه او تلفات یې لږ وو.
- کله چې مسلمانان ځواک ولري او تیار وي، بیا د عزت ژوند کوي او د چا ظلم او غلامي نه تحمل کوي.

- له دغې تاريخي کيسې دا هم زده کوو چې مسلمان د سختۍ او تشدد په ځای کې متشدد دی او د کفارو د ظلم په مقابل کې له نرمۍ کار نه اخلي، خو مسلمان سره نرم او له مينې ډک تعامل کوي.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ ليکنې له لوستو وروسته يې په هکله يوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې يې وليکئ.

# د فارابي یوه کیسه

فارابي هغه مسلمان فیلسوف دی چې پوهه یې ډېری نوابغ گوته په غاښ کړي. د هغه عجیبه او بې مثاله پوهه ډېری په دې باور کړي، چې گوندې دا کیسې حقیقت نه لري، ځکه انسان نه شي کولی دومره څه زده کړي! خو ستر فیلسوف فارابي کې دا هر څه وو او موږ ته یې د تاریخ کتابونو کیسې په خپله حافظه کې ساتلي. راځئ د فارابي یوه حیرانوونکي کیسه ولولو:

مسلمان وتلی فیلسوف ابو نصر فارابي په ۸۷۴ میلادي کال د افغانستان په فارياب کې زیږېدلی. د فارابي د اصلي ځای په هکله کره معلومات نه شته، ځینې یې ترکی بولي او ځینې بیا وايي چې د افغانستان د فارياب د سیمې دی. د فارابي نوم هم له فارياب سره ربط لري چې د دويم روايت په کره توب دلالت کوي.



فارابي د رياضياتو، ادبياتو، فلسفې، ژبې او نور علومو ستر عالم و. ويل کېږي چې په اويا ژبو پوهېده !فلسفه او منطق یې له مشهور مسيحي ژباړن متي بن يونس سره لوستي وو. فارابي ډېر کتابونه ليکلي او د ډېرې پوهې او فلسفيت له امله یې دويم استاد بولي. دا چې ارسطو لومړی استاد بلل کېده او ده یې ډېرې کتابونه شرحه کړي هم وو، نو دی یې دويم استاد وباله.

فارابي زاهد عالم و. له پوهې سره یې دومره مینه وه چې واده یې هم نه و کړی. د دنیا د ترلاسه کولو له پاره یې هم هڅې نه کولې، بلکې په غریبۍ کې یې ژوند کاوه. د وخت له حاکم نه یې هېڅ کله مال نه و اخیستې او آن کله چې وفات کېده، ځینې کسانو پرته د ده له اجازې له حاکمه ورته مال غوښتی و خو کله چې دی خبر شو، په قهر شو. هغه مال د ده له وفاته وروسته راورسېد.

یو وار ستر نابغه ابو نصر فارابي د وخت حاکم سیف الدوله مجلس ته ورغی. سیف الدوله ورته وویل چې کېنه. فارابي وویل :لکه ته چې یې او که لکه زه؟ سیف الدوله وویل لکه ته. خو دا خبره پرې ښه ونه لګېده، ځکه هغه وخت به پاچایانو ته هر چا له حده ډېر احترام کاوه او هره خبره به یې تاییدوله. نو حاکم په بله ژبه یوه کس ته چې څنګ ته یې ولاړ و وویل، چې فارابي بې ادبي وکړه او زه یې ترې څه پوښتم، که پرې پوه نه شو، ویې باسئ.

فارابي ورته وویل چې وارخطا کېږه مه. سیف الدوله حیران شو چې فارابي څنګه په دې ژبه وپوهېد. نو ویې پوښت چې په دې ژبه پوهېږې، فارابي یې ځواب کې وویل چې هو او په اویا ژبو پوهېږم.

د سیف الدوله په مجلس کې به د مختلفو علومو پوهان ناست و. فارابي د هر مسلک له عالم سره په هماغه مسلک کې وغږېده. په هر مسلک کې دی په هغوی بر و، نو هغوی کاغذونه وایستل او د ده د خبرو په لیکلو یې شروع وکړه.

حاکم فارابي ته وویل چې د خوړو اشتها لرې؟ فارابي وویل نه. بیا یې ویل د څښلو اشتها لرې؟ هغه بیا منفي ځواب ورکړ. بیا یې وپوښت چې څه اورېدل غواړې؟ فارابي وویل هو.

حاکم د موسیقي ډله راوغوښته. هغوی چې موسیقي غږوله، فاربي په هر یوه ته ویل چې داسې نه ده، غلط شوې!

فارابي ټول ناست خلک یو وار وخندول بیا یې وژړول او بیا یې ویده کړل. په داسې حال کې چې ټول ناست خلک ویده وو، فارابي له مجلسه پټ ووت.

فاربي مشهور فیلسوف و او له علم سره یې بېساری مینه وه. په اویا ژبو پوهېده !شپه او ورځ به په فکر کولو، لیکلو او لوستلو بوخت و، خو دومره ناداره هم و چې پیسې ورسره نه وې چې شپې د لیکلو له پاره مشال واخلي!

فارابي د ژوند په وروستيو کې دمشق د اوسېدو له پاره غوره کړی و. ويل کېږي چې ډېر کله به يې وختونه په باغونو او د بحر څنگ ته تېرول. بالآخره په کال ۹۵۰ ميلادي کې په دمشق کې وفات شو.

## درسونه

- کله چې مسلمانان په علم پسې وو، دغسې ستر شخصيتونه يې لرل، مگر کله چې له علمه لرې شول، هغه عظمت او شان يې هم ورک شو.

- انسان بايد داسې ونه وايي چې زه نه شم زده کولای، بايد انسان په ځان باور ولري او ووايي چې خدای ستر ماغزه راکړي او بايد ترې گټه پورته کړم.

- مسلمان پوهان بايد حاکم ته ډېر نږدې نه وي، ځکه بيا يې عظمت متضرر کېږي.

- پيسې انسان ته شخصيت نه ورکوي، بلکې هغه پوهه ده چې له انسانه ستر شخصيت جوړوي.

- مسلمانان باید علم ته په اوچته سترګه وګوري او د لاسته راوړلو له پاره يې ډېر کار وکړي. نن چې موږ د ناپوهۍ پوه دوره کې يو، له غربه په دوو طريقو پوهه اخيستلای شو. يا دا چې مسلمان زده کوونکي هلته ولېږو او له هغوی پوهه تر لاسه کړو، يا دا چې له علمي ټولنو پوهان خپلې ټولنې ته راولو چې دلته مسلمانان وروزي.

**ګرانو لوستونکو!**

**د پورتنۍ ليکنې له لوستو وروسته يې په هکله يوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې يې وليکئ.**

# د شیطان امتیان

مسلمان باید د نورو خلکو په هکله مطالعه وکړي چې ښه عادتونه یې ترې واخلي او له بدو یې ځان وساتي. نن سبا په غرب کې داسې ډېر څه شته چې موږ ترې علمي ګټه پورته کولای شو او داسې ډېر څه هم شته چې له وحشت او حیوانیت پرته بل څه یې نه شو بللای. د شیطان امتیان د غرب د دغه وحشت ښه نمونه ده.

په ۱۹٦٦ میلادي کال کې په غرب کې د شیطان امتیانو په نامه نوې ډله جوړه شوه. دغه ډله د آسماني دینونو په مخالفت د شیطان ستاینه کوي او ځانونه یې امتیان بولي. له دې مخکې شیطان بد ګڼل کېده خو" جورج برنارد شو "په خپلو ادبي کتابونو کې له شیطانه

قهرمان جوړ کړی چې دوی له هغه او له ادبي کتابونو يې متاثر شول نو شيطان يې خپل خدای وباله.

د شيطان امتيان په دې باور دي چې بد نه شته. آن د انسان وژل هم بد نه دي، ځکه مرګ انسان نه ختموي. دوی شراب پرېمانه څښي، موسيقي ډېره اوري، ګډاګانې کوي او ډله ييزې زناګانې کوي.

د قبرونو کينل او د مړو ګډول، د پيشو او کوچني سپي وژل او وينه يې څښل او دې ته ورته نور وحشيانه کارونه د دوی عبادت ګڼل کېږي. د شيطان امتيان خپل ماشومان تحقيروي او احساس يې وژني، نيشه يي مواد پرې خوري، ډېر يې وهي او د انسان د غوښې خوړو او وينې څښلو ته يې مجبوروي.

د شيطان د امتيانو عبادتونه او عادتونه ټول دې ته ورته حشيانه او داسې دي چې انسانيت ته بې. احترامي ګڼل کېږي.

نه يوازې د شيطان امتيان- چې په غرب کې محدود او معلوم کسان دي -بلکې په ټېرو څلور سوو کلونو کې- چې انسان له هر ديني قيده آزاد شوی -په غرب کې داسې ډېر نظريات پيدا شوي چې سليم عقل يې نه شي منلای.

چارلس دارون چې د غرب د نني عصر ستر شخصیت دی او ډېری خلک یې نظریات مني، د انسان او بیزو اصل یو ګڼي! په داسې حال کې چې دین او عقل یې نه مني او همدا ده چې نن علم ثابته کړه چې د د انسان او بیزو اصلونه بېل دي.. نن ثابته شوې چې د انسان اصل انسان دی نه بیزو.

فروید چې ستر غربي مفکر دی او نن سبا په سیکالوجۍ کې مهم ځای لري، هغه ماشوم ته چې زړه یې د سپین کاغذ په څېر پاک دی، د شیطان په سترګه ګوري او وایي چې نر ماشوم مور ته او ښځینه ماشومه پلار ته د جنسي تمایلاتو په اساس میلان لري. دا رنګه نور ډېر فیلسوفان شته چې په خپلو فلسفو او نظریاتو کې د انسان شرف او عزت متضرر کوي.

دا ټول نظریات چې د انسان او انسانیت بې حرمتي ګڼل کېږي، په غرب کې له پنځلسمې پېړۍ وروسته رامنځ ته شوي. دغه وخت کې غربي فیلسوفانو خلکو ته د هر ډول فکر مطلقه آزادي ورکړه، داسې آزادي چې نه یې دین محدودوي او نه اخلاق. همدا ده چې د شیطان امتیانو ته ورته ګډوډ نظریات رامنځ ته شول.

د همدغو نظریاتو د رامنځ ته کېدو لاملونه دي چې نن کابو نیم انګلستانیان په خدای باور نه لري. همدا ډول د نورو غربي هېوادونو اوسېدونکو په خدای باور بایلودلی او په کاملا آزاد انساني فکر یې اتکا کړې. همدا رنګه په غرب کې د قانون جوړولو نوی مکتب جوړ شو چې ویل چې انسان ته هر څه ښه ښکاره شول، هماغسې قانون دې جوړ کړي. دوی ویل چې هېڅ څه مطلقا ښه او بد نه دي.

کله چې د غرب دغه فکري بې لارې لیدل کېږي، د اسلام اهمیت او حقانیت ښکاره کوي. انسان موږ ته په فکر کولو امر کړی، خو فکر ته یې لارې چارې هم راښودلي چې له بې لارۍ مو ساتي. ځکه اسلام د بشر د فطرت مناسب دین دی.

## درسونه

- اسلام یوازېنی دین دی چې عقل ته یې دومره آزادي ورکړې چې هم نوښت رامنځ ته کړای شي او هم د انسانیت له چوکاټه ونه وځي.

- د غرب ټکنالوجیکي پرمختګ د منلو وړ دی او مسلمان باید د دغې ټکنالوجۍ د لاسته راوړلو له پاره هڅې وکړې، دا نه یوازې ښه کار دی، بلکې یوه اسلامي فریضه ده.

- د غرب غیر انساني او غیر اسلامي اخلاق د منلو وړ نه دي. مسلمان باید په دغه ډول فلسفو ځان خبر کړي او رد یې کړي، نه دا چې په ناخبرۍ کې یې رد کړي.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه ښېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# ستر هدف

اروا پوهان وايي انسان چې په کوم نظر ځان ته ګوري هماغسې دی. یعنې که انسان ځان ته ستر هدف په نظر کې ونیسي او د تر لاسه کولو له پاره یې پیاوړی عزم ولري، خپل هدف تر لاسه کولای شي، خو که ووايي چې زه کمزوری یم او دا کار نه شم کولای، آن که هغه کار ډېر کوچنی هم وي، نه یې شي تر سره کولای. ځکه خو پوهان وايي چې خپل هدف د ستورو په اندازه اوچت وساتئ، که سپوږمۍ ته هم ورسېږئ غنیمت دی لاسته راوړنه ده، خو که څوک ځان ته ټیټ هدف وټاکي کېدای شي هېڅ لاسته رانه وړي. دا د انسانانو په ژوند کې عملي شوې، بیا موږ ته علماو دا لارښوونه کړې چې هدف اوچت وټاکو.

د اوچت هدف د ټاکلو په هکله د یوه ستر شخصیت یوه په زړه پورې کیسې ته مو رابلم:

یو وار په ستره اسلامي مدرسه الازهر کې د ماشومانو په ټولګي کې استاد له ټولو دا پوښتنه کوله چې ځان ته یې کوم هدف ټاکلی او راتلونکي کې غواړي څه ترې جوړ شي.

هر چا خپل هدف ویلې. چا ویلې غواړم د پلانکي جومات امام شم. چا ویلې غواړم د وړکتون استاد شم او چا ښوونځی او پوهنتون یاداوه. بل ویلې غواړم لیکوال شم او له دې لارې خپل دین خدمت وکړم. نورو بل څه ویل. . یو غنم رنګی ماشوم چې یوسف نومېده او له استاد سره به ډېر کله غږېده، د ده نوبت شو. استاد د نورو زده کوونکو په څېر له ده هم پوښتنه وکړه چې راتلونکي کې غواړي څه ترې جوړ شي، ده ورته وویل چې استاده ما مه پوښته.



استاد له ټولو پوښتنه کړې وه، ده ته وویل چې ته هم باید ځواب ووایې او خپل نظر ته په ټیټه سترګه ونه ګورې. نو

یوسف ورته وویل:" زه غواړم شیخ الازهر شم "د ماشوم یوسف له دغه ځواب سره ټول ټولګیوال په خندا شول او ورته یې وویل چې ته او شیخ الازهر توب! ماشومانو ځکه دا خبره وکړه چې په مصر کې د شیخ الازهر مقام ډېر اوچت دی، نو رسېدل ورته آسانه نه دي. خو استاد ماشومانو ته وویل چې خاندئ مه. ستاسې د ټولګیوال ځواب زما ډېر خوښ شو، ځکه هر انسان باید ځان ته ستر اهداف وټاکي او ان شاء الله یوسف به دغه اوچت مقام تر لاسه کوي.

وختونه تېر شول. . د دغه ټولګی ټول ماشومان ځوانان او زاړه شول. . ځینې استادان شول، ځینې امامان، ځینې لیکوالان او ځینې نور څه.. یوسف چې د شیخ الازهر کېدو هدف یې ځان ته ټاکلی و، نه دا چې شیخ الازهر شو، بلکې د اسلامي نړۍ د علماو د اتحادیې رئیس وټاکل شو. . هر ځای او هره علمي غونډه کې د شیخ یوسف قرضاوي نظر یادېده او لا هم یادېږي.

کله چې یوسف قرضاوي په ټولګي کې خپل هدف وویلې، څنګ ته یې یو ملګری هم ناست و چې شپه او ورځ به سره ګډ ګرځېدل. . ملګری یې احمد العسال نومېده چې وروسته د نړیوال اسلامي پوهنتون اسلام آباد رییس وټاکل شو. کله چې قرضاوي ستر عالم

شو، احمد العسال یې دا خاطره ور یاده کړه او ورته یې وویل "ته اوس له شیخ الازهره هم اوچت مقام لرې".

## درسونه

- هر انسان باید په ځان اعتماد وکړي او له ځان سره باید ستر اهداف په نظر کې ونیسي، نه دا چې ووایي زه دا کار نه شم کولای.

- هر څوک چې ځان ته ستر هداف ټاکي، باید د خپل هدف د لاسته راوړلو له پاره شپه او ورځ هڅې وکړي. عربان وایي "څوک چې اوچت مقام غواړي، شپې سهاروي". پښتانه هم وایي "بې زحمته راحت نه شته".

- انسان باید هېڅ کله مایوس نه شي او تل باید په دې ډاډه وي چې خدای رحیم ذات دی او هېڅ کله له خپل بنده سره ظلم نه کوي.

**ګرانو لوستونکو!**

**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# په خدای توکل

ډېرى خلک داسې دي چې په ځینو خبرو سم نه وي پوه او خلکو ته هم نا سمه ښوونه کوي. په ډېرو موضوعاتو کې خلک د اسلام په حقیقي او اصیل موقف نه وي خبر. دوی یوه خبره واوري او د اسلام ټولې لارښوونې یې نه وي زده، ځکه سترې غلطۍ کوي. یو له دغو موضوعاتو په خدای د توکل موضوع ده چې ډېرى خلک ترې غلط فهم اخلي.

زړه ته نږدې ځوانانو!

چې په آسمان کې وریځ ښکاره نه شي باران نه ووریږي. چې په ځمکه کې دانه وانه چوو، شین بوټی نه راپورته کېږي. چې واده ونه شي،

اولاد نه پیدا کېږي. همداسې خدای تعالي د هر څه له پاره یو سبب یا علت ټاکلی. دغه قانون ته په انګلیسي کې LAW OF CAUSATION او موږ ورته د سببیت قانون وایو.

ځینې خلک داسې ګومان کوي چې که څوک په خدای توکل وکړي، له سبب نه پرته به خدای تعالی د ده کار وکړي. خو داسې نه ده. لکه څنګه چې مخکې مو وویل خدای تعالی هر کار ته یو قانون جوړ کړی، چې باید د قانون مطابق وشي او بیا په خدای تعالی توکل وشي.

یو ځوان د پوهنتون محصل و. د سببیت په قانون یې سر نه و خلاص. داسې ګومان یې کاوه چې که په خدای توکل وشي او د مقصد د لاسته راوړو له پاره هڅې ونه شي، تر لاسه کېدای شي، ځکه په خدای مې توکل کړی! دغه ځوان به هېڅ کله درس نه وایه او ویلې یې چې په خدای مې توکل کړی. چې د امتحان شپه به راورسېده، سورت یس به یې لوسته او کرار به ویده شو. ویلې یې چې سورت یس مې لوستی وي، نو څنګه به ناکامېږم. په دې نه و پوه چې د بریالیتوب له پاره درس ویل شرط دي، نه د یس شریف لوستل.

نورو خلکو به شپې په درس ویلو سهار کولې او ځانونه به یې ستړي کول، خو یاد ځوان به هېڅ ځان نه ستړی کاوه، ځکه ویلې یې چې توکل مې په خدای دی. کله چې امتحانونه خلاص شول او نتیجې راووتلې، چا چې کوښښ کړی و او درس یې ویلی و، هغوی ټول کامیاب وو، خو چا چې له توکل نه غلط فهم لاره، ناکام پاتې شو او له پوهنتونه یې واېست!

که د ستر رسول صلی الله علیه وسلم ژوند کې فکر وکړو، هغه داسې نه ویل چې توکل په خدای او نور یې هېڅ کار نه کاوه. بلکې هغه خپله انساني هڅه کوله او بیا یې پایله خدای ته سپارله. د خدای رسول چې کله له مکې مدینې ته هجرت کاوه، په مستقیمه لار لا نه ړه، بلکې شا ته لاړ او له څو ورځو تم کېدو وروسته د مدینې په لور وخوځېد.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک سیرت ستر لیکوال علامه شبلي نعماني وایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بریالیتوبونو کې د خدای په مرسته کې هېڅ شک نه شته، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې کامیابۍ له پاره داسې تکتیکونه استعمال کړل چې د دنیا د قانون مطابق یې بریا لاسته راوړه. هغه

وايي چې که د دنيا د سببيت د قانون له مخې رسول الله صلی الله عليه وسلم مخکې نه وي تللی، نو د احد په جگړه کې يې ولې ماته وخوړه؟ نعماني صاحب وايي چې د احد په جگړه کې د سببيت قانون نه و مراعات شوی، ځکه مسلمانانو ماته وخوړه.

آن د آخرت په ورځ، هغه کسان چې مسلمانان وي او نېک عملونه يې کړي وي، خدای تعالی يې جنت ته داخلوي او هغه څوک چې کافران دي خدای تعالی يې په جهنم کې داخلوي. د نېک عمل سبب جنت کېږي او د بد عمل سبب دوزخ.

نو انسان بايد د يو کار په تر سره کولو کې د بريالیتوب لارې چارې ولټوي، خپله هڅه وکړي او ځان ستړی کړي، بيا دې توکل په خدای کړي.

## درسونه

- مسلمان بايد ځان په دقيقو موضوعاتو پوه کړي او د اسلام موقف له داسې علماو واوري چې هم په دين پوه وي او هم په دنيا، داسې نه چې خدای مه کړه په غلطه لار روان شي او په پايله کې ځان ته ضرر ورسوي.

- موږ هم باید د خدای د رسول په څېر لومړی د یو کار دنیایي لارې چارې برابرې کړو، بیا په خدای توکل وکړو.
- اسلام معقول دین دی او هېڅ کله موږ ته داسې لارښوونه نه کوي چې د سلیم عقل سره په ټکر کې وي.


گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# دغسې استقامت!

نن درته د یوه داسې ماشوم کیسه کوم چې په خپل ژوند کې له بلا ډېرو مشکلاتو او ستونزو سره مخ شوی، خو ژوند کې مایوس شوی نه دی او هېڅ کله یې نه دي ویلي چې دا کارونه خو زما په وس کې نه دي، بلکې هر ستر کار چې به مخې ته ورغی، ویل به یې چې که تر ما مخکې کوم انسان کړی وي، زه یې هم کولای شم. . زه هم انسان یم. . همدا لوړ احساس او له سختیو سره وسپنیز مقاومت و چې په خپل ژوند کې بریالی شو.

دغه ماشوم د افغانستان په یوه لرې پرته سیمه کې اوسېده چې نه سړک ورغلی و او نه د ژوند نورې آسانتیاوې په کې وې. د دغې سیمې خلکو یوازې په خپلو مېږو او زراعتي ځمکو ژوند مخ پر وړاندې بووه. که چا به یوه جریب ځمکه او شل پسونه لرل، هغه به پاچا بلل کېده. نو سخ په هغه چا چې دوه لوېشتې مځکه یې نه وه او د کورنۍ لګښت یې پیدا کاوه!



په دغه ناداره سیمه کې د دغه ماشوم پلار بیخي لږه مځکه لرله خو اولاده یې ښه پرېمانه وه. نو اقتصادي حالت یې خراب و. که کله به یې یوې ټوټې ځمکې سم حاصل ورکړ یو څه به کېدل، خو که به حاصل سیلاب وواهه یا کوم بل آفت نازل شو، بیا به یې وخت په

لوګه تېراوه. . په دغه غریبۍ او دربدرۍ کې اوسېدل، خو پلار یې- چې ملا و -نه غوښتل زامن یې د نورو خلکو په څېر ناپوه او جاهل پاتې شي. هغه خپلو زامنو ته وویل چې ترې کار او مزدوري نه غواړي، بلکې دا یې ستره هیله ده چې زامن یې د انبیاو ورثه شي. د ملا صاحب چې کوم مولویان دوستان وو، خپل زامن یې د هغوی په لارښوونه په سترو دیني مدرسو شامل کړل.

دغه ماشوم هم د نورو وروڼو په شان په علم پسې روان شو. تر مزار شریف په نیمه کرایه له موټروان سره لاړ. هلته چې ورسېد تپه تیاره شپه وه او ماشوم او ملګری یې ښه وګي وو. نه د ده او نه یې د ملګري په جېب کې پیسې وې. له دې سره سره د مدرسې آدرس هم ورته نه و معلوم. هسې په یوه جومات ننوتل. ګوري چې د جومات امام یې د مشر ورور- چې په مزار کې درس وایه -ملګری دی. د هماغه امام په ملګرتیا یې تر خپل ورور پورې ځان ورساوه.

ماشوم په مدرسه کې واړول. سهار، ماسپښین او ماښام به یې له کورونو ډوډۍ ټولوله او پاتې وخت به یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکوله. هغه چې په سختیو کې لوی شوی و، له کتابه پرته یې له بل څه سره مینه نه وه.

د یوې مودې په تېرېدو په کورنۍ پسې خپه شو. خو کوچني ماشوم له ځان سره وویل چې باید دغه خپگان له زړه وباسم. باید د پوهې په خاطر مور، پلار او بل هر دوست هېر کړم، ځکه پوهه انسان په انسانیت پوهوي او مازې پښه ښوییېدل کولای شي ما له زده کړو وباسي.

 له یوې خوا کور ته تگ د پیسو د نشت له امله ستونزمن و او بله دا چې ماشوم وېرېده چې په کلي کې د مور او پلار مینه دومره غالبه نه شي چې د ده زده کړې ونه دروي.

هره ستونزه او سختي یې تېره کړه. . هم یې وچه ډوډۍ وخوړه او هم پوپنک وهلې. . کله نا کله وگی هم پاتې شو. کله به چې یې د چا د کور له ور سره د "وظیفه راوړئ" غږ وکړ، له هغې خوا به ډاروونکی غږ راغی ویل یې :"ورک شه !ماغزه مې مه خوره !که بیا دې دې خوا غږ راغی کاسه دې پر سر در اړوم "!له دې غږ سره به د ماشوم زړگی بوټ وخوت، په منډه به یې د مدرسې لیلیې ته ځان رساوه او د مشر ورور په مهربانه غېږه کې به یې ځان ورگوزار کړ.

یو وار یې چې د وظیفې ناره وکړه، له کوره یو وحشي سپی ورپسې شو. . دی هم په منډه د مدرسې لور ته روان شو. . په لاره کې یې له کاسې پاتې خواږه هم وغورځېدل خو هغه سپېرې شونډې او د سپي ډار تشه کاسه مدرسې ته ولېږه. . دغه وېروونکې حادثه یې د مرګ تر ورځې نه هېرېده!

بالآخره مدرسه پای ته ورسېده. . هر څوک خپل کور او خپل کلي ته لاړل. . ځینې ملګري یې په جوماتونو کې امامان شول. ځینو په مدرسو کې استادي شروع کړه او ځینې په ماموریت او نورو لارو لاړل، خو ماشوم چې اوس ځوان شوی و، په مدرسې یې اکتفا ونه کړه، هغه ویل زه باید تر دې مخکې لاړ شم او لا ډېر څه زده کړم. دغه وخت کې ځینې خلک سعودي ته د زده کړو له پاره لاړل چې د ده توجه یې هم جلبه کړه. . له چا یې پیسې پور کړې او د سعودي په لور رهي شو. . په سعودي عربستان کې به یې د رخصتۍ په وخت کې کار کاوه او د درس په وخت کې به یې درس وایه.

په سعودي کې یې د عربي معهد ووایه، بیا یې د شرعیاتو پوهنځي کې داخله واخیسته. له دې مرحلې وروسته یې د ماستري اراده وکړه. . ځینو ورته وویل چې دا کار نه شې کولای، مشکل کار دی. . خو ده

وویل چې که له ما مخکې بل انسان لوستی وي، زه یې هم لوستی شم. . نو ماستري کې یې داخله واخیسته او په بریالیتوب یې پای ته ورسوله. بیا د دوکتورا د مرحلې محصل شو. هغه وخت کې په افغانستان کې د ګوتو په شمار دوکتوران وو او دغې مرحلې ته رسېدل یوه ستره کامیابي ګڼل کېده.

هغه چې د علم په لاسته راوړلو کې له ډېرو اقتصادي ستونزو سره مخ شوی و، ویلې به یې چې په کار کولو کې شرم نه شته. که څوک څومره پوهه ولري او اقتصادي حالت یې خراب وي، باید په کوڅو کې سودا خرڅه کړي او ونه شرمېږي.

## درسونه

- پوهه هر انسان ته ډېره ضروري ده. همدا پوهه ده چې سړی د سیالانو سیال کوي او سړي ته د خلکو په منځ کې شخصیت ورکوي.
- که یو انسان خواري کوي او خپل هدف پسې شپه او ورځ نه ستړی کېدونکی روان وي، بې نتیجې نه پاتې کېږي.

- په لړه پوهه باید اکتفا ونه شي. باید څومره چې مو له وسې برابر وي، پوهه لاسته راوړو.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# د نړۍ لومړی لیکلی اساسي قانون

هر څوک هڅه کوي د خپل ملت هغه اکتشافات او علمي اقدامونه چې دوی په کې په نورو مخکې او لومړي دي، خلکو ته وښيي، ځکه دا د تمدن او پوهې نښه ده. خو موږ د مسلمانانو په صفت په دې باور یو چې یوازې لومړی توب او مخکې توب هم نه دی مهم. انسان باید داسې څه وکړي چې هغه سم وي. لکه که څوک په بد کار کې خدای مه کړه لومړی شي، دا هم ځینو ته د ویاړ خبره ښکاري، خو مسلمان ته د عار.

نو هر څوک هڅه کوي چې خپل لومړی کارونه خلکو ته وښيي او خپل عظمت ثابت کړي. مسلمانو علماو هم اوس نړۍ ته ثابته کړې، چې

موږ هم د نړۍ متمدن خلک یو او په مهمو علمي کارونو کې په ټوله نړۍ مخکې یو. یو له دغو لومړیتوبونو، د محمد صلی الله علیه وسلم اساسي قانون دی چې د نړۍ په تاریخ کې لومړی لیکلی اساسي قانون ګڼل کیږي.


مخکې تر دې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اساسي قانون لیکل وکړو، لومړی باید اساسي قانون وپېژنو چې څه ته ویل کیږي؟

اساسي قانون چې په عربي کې یې دستور او په انګلیسي کې یې کانسټېټیوشن بولي هغو اصولو یا مهمو قوانینو ته ویل کیږي، چې یو دولت پرې اداره کیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له عصره مخکې وختونو کې دغسې قانون بل ملت نه و لیکل شوی. خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې معظمې مدینې منورې ته هجرت وکړ، په مدینه کې مختلف خلک اوسېدل. هلته یهودان، مشرکین او مسلمانان اوسېدل چې د ټولو شمېره لس زره کسانو ته رسېده. دغه وخت کې په مدینه کې دښمنۍ او جګړې وې. خلکو په امن کې ژوند

نه کاوه، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته مهاجر شو،ټولې جګړې او بدبختۍ یې لمنځه یوړې، اسلامي دولت یې تاسیس کړ او اساسي قانون یې وضع کړ، چې د خلکو کارونه تنظیم او اداره کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په لومړي کال- ۶۲۳م -کې د دولت له پاره اساسي قانون جوړ کړ چې د میثاق مدینه په نامه یادیږي. دغه اساسي قانون چې په نړۍ کې په لومړي وار ولیکل شو، ۵۲ جملې یا په حقوقي اصطلاح مادې لري.



دغه اساسي قانون په بسم الله الرحمن الرحیم شروع شوی او په لومړی ماده کې یې محمد صلی الله علیه وسلم د خدای رسول ګڼل شوی. ورسره ټول مسلمانان -که د مکې مسلمانان وو او که د مدینې- یو امت بلل

شوي وو. د دغه لومړي ليکلي اساسي قانون نورې مادې د دولت اساسي او مهم موضوعات څېړي.

دغه ډول د خدای لخوا رالېږل شوي آخري رسول خلکو ته د حقوقو ستر درس ورکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم وښوده چې په خپل عميق سياسي بصيرت يې د قومونو سترې جګړې لمنځه يوړې او يو داسې دولت يې جوړ کړ چې په هغه کې يهودان، مشرکين او مسلمانان اوسېدل، چې ټولو ته خپل لازم حقوق او وجايب ورکړل شوي وو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د نړۍ په تاريخ کې لومړی شخصيت شو چې يو دولت ته يې ليکلی اساسي قانون جوړ کړ.

په اوسني عصر کې د اسلام د نړيوال قانون ستر عالم دوکتور محمد حميد الله په دغه موضوع کې يو علمي کتاب ليکلی. د دغه ستر کار اجر به خدای ښښلي محمد حميد الله ته ورکوي.

# درسونه

- رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدای له لورې رالېږل شوی دی او هغه په خپلې ځیرکتیا نړۍ ته په مختلفو موضوعاتو کې درسونه ورکړي.
- مسلمانان د نړۍ متمدن او مهذب خلک دي چې په ډېرو علمي مسایلو کې په نورو مخکې شوي دي.
- مسلمان باید د دوکتور محمد حمید الله په څېر په خپل اسلامي تاریخ کې څېړنه وکړي او خلکو ته خپل عظمت او سترتوب ښکاره کړي، چې دغه کار زموږ دین ته د خلکو په بللو کې ډېر مهم واقع کېږي

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# اسلام او موډرنیزم

په اروپا کې په تېرو څو پېړیو کې ستر بدلونونه راغلي دي. هغوی مخکې د کلیسا اطاعت کاوه او کلک مسیحیان وو، خو د کلیسا مشرانو په خلکو داسې سختي شروع کړه چې خلک یې له دینه زړه تورن کړل. دا چې مسیحیت کې گوتې وهل شوي وو او اصلي الهي دین نه وو پاتې، نو د مسیحیت دیني مشرانو چې څه غوښتل هماغه یې خلکو ته د دین په نامه معرفي کول. د مسیحیت دیني مشرانو خلک ډېر په عذاب کړل، تر دې اندازې چې کله به چا په ساینس او ټکنالوجي کې هم پرمختګ کاوه، دوی به نه پرېښودل، ځکه دوی وېرېدل چې خلک د دوی له اطاعت نه سرغړونه ونه کړي. بالآخره

خلک دوی پسې پاڅېدل او د دوی له غلامۍ او خدايۍ يې ځانونه خلاص کړل.

کله چې هغوی د کليسا د مشرانو له اطاعت نه ځان خلاص کړ، نو ساينسي پرمختګ ته آزاد شول او ښه اکتشافات يې هم وکړل. دغه د خلاصون دوره د موډرنېزم يا عصري کېدو په دورې يادېږي. دغه دوره کې په اروپا کې عقل حاکم و او هر قانون به دوی د خپلو عقلونو مطابق جوړاوه. دا چې دوی د اسلامي نړۍ په مهمه برخه حمله کړې وه او هلته حاکمان وو، نو غوښتل يې دغه د عقل حاکميت په اسلامي نړۍ کې هم رامنځ ته کړي، خو مسلمانانو دغه کار نه مانه، ځکه د دوی عقل له اسلامي اساساتو سره په ټکر کې و. خو ځينو کسانو وغوښتل د دوی له پاره اسلام کې بدلون راولي.

په هندوستان کې سيد احمد خان چې غوښتل اسلام "عصري" کړي، ځينې داسې نظريات وړکړل چې له اسلام سره مستقيما په ټکر کې واقع کېدل. مثلا سيد احمد خان د ملايکو له وجوده منکر شو. ځکه هغه ويل چې د ملايکو وجود عقل نه مني !په داسې حال کې چې د ملايکو په وجود قرآن اقرار کوي.




Figure 1. Sayyid Ahmad Khan

ځینو نورو ته د ښځو کول چې د اسلام دین روا کړي، له عصریتوب سره برابر نه ښکارېده، نو غوښتل یې داسې ښکاره کړي چې اسلام د څلورو ښځو اجازه نه ورکوي، بلکې یوازې یوه ښځه کول مني. ځینو نورو همدا رنګه د اسلام او دولت د بېلوالي نظریات ورکړل. او دې ته ورته نور داسې نظریات ورکړل شول، چې له اسلام سره ښکاره مخالف وو.

هغوی غوښتل اسلام داسې جوړ کړي چې د غرب عقل یې ومني او ورته معتدل ښکاره شي. د ښځې په هکله هغوی ویل چې اسلام ورته کافي حقوق نه دي ورکړي. نو دوی شروع وکړه چې د ښځو په هکله اسلامي لارښوونې بل ډول تعبیر کړي. په داسې حال کې چې اسلام ښځو ته تر ټولو مناسب او برابر حقوق ورکړي. غرب چې ښځې ته یې

بې قید و شرطه آزادي ورکړې وه، له ډېرو سترو ستونزو سره مخ شول، چې اسلام یې مخکې له مخکې مخه نیولې وه.

د سید احمد خان او نورو په مقابل کې سید جمال الدین هم یو ستر اسلامي مفکر و چې خپله لاره او خپل نظریات یې لرل. افغاني هم غوښتل اسلام ته عصري تعبیر وکړي، مگر سید جمال الدین د عصریتوب په خاطر د اسلام له اصولو تېر نه شو. د سید جمال الدین لاره تر دوی معقوله او له عصر سره برابره وه.

سید جمال الدین تر هر څه لومړی غوښتل چې په اسلامي نړۍ کې د غربیانو حاکمیت ختم کړي، ځکه غربیانو د اسلامي هېوادونو د گټو منابع په خپل لاس کې نیولي وو او نه یې پرېښودل چې مسلمانان آزادانه ډول پرمختگ وکړي. افغاني په دې باور و چې د دوی له خلاصونه پرته پرمختگ نه شي کېدای. نو لومړی باید د غرب استعماري حاکمیت لمنځه لاړ شي، بیا چې مسلمانانو خپل حکومتونه په خپل لاس کې ونیول، د پرمختگ او عصریتوب فکر دې وشي او عصریتوب دې هم داسې وي چې د اسلام له اصولو او لاښوونو سره په ټکر کې نه وي.



سید جمال الدین د ځینو نورو دیني پوهانو په څېر نه و چې د غرب له هر څه سره یې مخالفتونه ښکاره کول. د سید جمال الدین په ژوند کې د غرب له ټکنالوجۍ سره هېڅ ډول مخالفت نه دی ښودلی. سید جمال الدین په دې باور و چې موږ هم باید پرمختګ وکړو خو له اسلام سره. اسلام د پرمختګ هېڅ مانع نه دي. هغه څه چې د انسان عقل ورته په بده سترګه ګوري او اسلام روا کړي وي، هغه د انساني عقل نقص دی، که نه اسلام هر څه د انسان په خیر کړي دي.

اوس چې ګورو د سید جمال الدین لاره ډېره قوي او معقوله وه. موږ که پرمختګ غواړو باید له اسلام سره یې وکړو او د نورو په خاطر د اسلام اصول بدل نه کړو. د اسلامي نړۍ په تاریخ کې مسلمانان د

پوهې ډېرو لوړو درجو ته رسېدلي وو، په هغه وخت کې مسلمانان په خپل دین کلک ولاړ وو.

## درسونه

- اسلام د بدل شوی مسیحیت په څېر نه دی چې د پرمختګ او ساینس مانع شي، بلکې انسانان دغې پوهې ته دعوتوي.
- په اسلام عمل کول نه یوازې دا چې موږ له پوهې نه منع کوي، بلکې پرمختګ په لور مو بیایي.
- مسلمانان باید د بل چا د خوشالولو په خاطر اسلام ته ضرر ونه رسوي. اسلام موږ ته تر هر څه محترم دی.
- د سید جمال الدین افغاني په څېر سترو مفکرینو لار باید تعقیب شي، ځکه د هغوی نظریات معقول او د اسلام په خیر دي.

**ګرانو لوستونکو!**


**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# ملتپالنه

کېدای شي په لومړی وار مو د ملتپالنې کلمه اورېدلې وي. یا به مو مخکې اورېدلې وي خو په معنا به یې نه پوهېدئ.. د دې له پاره چې د دغه کلمې په معنا او د دغه فکر په وړاندې مو د اسلام له موقفه خبر شئ، دغه لیکنه باید په دقت ولولئ.

ملتپالنه یعنې یو څوک خپل هېواد خپل هدف وګرځوي، هېواد یې ورته تر هر څه مخکې وي او د هېواد له پاره هر څه کوي. یو عالم د ملتپالانو لنډ تعریف کې وایي چې ملتپالان په دې باور دي چې که زما ملت په حقه وي او که په باطل، ظلم کوي او که عدل، ښه کوي او که بد، زه یې ملاتړ کوم.

یعنې د ملتپالانو فکر او لاره خپل هېواد دی.. ملتپالان له خپل هېواده هېڅ څه ته په اوچته سترګه نه ګوري. د دوی دین، عقیده او فکر ملت دی، له دې بل اوچت ارزښت نه لري.




اوس راځو دې ته چې ملت پالنه او له ملت سره مینه فرق لري او که نه. ملتپالنه او له خپل هېواد او خلکو سره مینه کول ډېر فرق لري. له خپل ملت او ژبې سره مینه کول د انسان د فطرت تقاضا ده. انسان چې په یو ځای کې واوسېږي او له یو چا سره ژوند وکړي، دا یې په زړه کې ځای پیدا کوي. خو دا مینه باید دې حد ته ونه رسي چې څوک

ورته له اوچتو ارزښتونو تېر شي. دین تر هر څه انسان ته اوچت دی، دا دین دی چې پردي خلک سره وروڼه کوي. دین موږ ته وايي چې حق باید ووایو، ولو که په حق ویلو کې د انسان او یا یې د هېواد ضرر وي، خو ملتپالان داسې نه کوي، ځکه ملت ورته تر هر څه اوچت دی او د ملت له پاره هېڅ حدود نه لري

اسلام ملتپالنې ته په کومه سترګه ګوري..؟ اسلام ملتپالنه ردوي.. خو له ملت سره مینه کول نه ردوي. ځکه دا د انسان فطرت دی، خو انسان ته د دې اجازه نه ورکوي چې ملت یې په باطل هم ولاړ وي، دی یې ملاتړ وکړي او د حق مخالف شي.. ځکه حق تر هر څه اوچت دی.

موږ دین ته تر هر بل فکره په اوچته سترګه ګورو، ځکه زموږ دین حق دی.. دین موږ ته تر ژبې، خلکو او خاورې ډېر اوچت دی، نو همدا دین دی چې زموږ مسیر ټاکی..

د عربانو او اسرائیل اختلاف موږ ته ښکاره کوي چې دین د انسان تګلاره جوړولای شي، نه ملت. آن که څوک یوه ژبه، یو اصل و نسب

ولري او په یوه خاوره اوسېدلي وي، خو چې دینونه یې فرق وکړي، یو ملت کې نه شي سره ټولېدای.

عربان او یهودان یو اصل و نسب لري.. په یوه سیمه کې اوسېدلي.. د عبري ژبې –چې د یهودو ژبه ده- د زده کولو په وخت کې له ځینو عجیبو مسایلو سره مخ شوم، چې زه یې ډېر حیران کړم.. له پیله مې د عربي او عبري ژبې ډېر زیات نږدې والی درک کړی. له حسابه او الفبا نیولې د حیواناتو تر نومونو او آن سلام او ډېر نور لغاتونه سره یا یو دي او یا د وخت په تېرېدو په کې فرق راغلی..

ما چې د عربانو او یهودانو دغه نسبي او د ژبې نږدېوالی ولید او بیا مې دښمني ته پام شو، حیران شوم او په دې لا باوري شوم چې نه ژبه، نه نسب او نه خاوره انسانان سره یو کولای شي، بلکې دا دین دی چې د انسانانو تګلاره جوړوي.

زما یو دوست ملتپال و. هغه ویل چې موږ باید هر ډول اختلاف شا ته وغورځوو او ملت خپل اصلي هدف وګرځوو.. ما ورته وویل، فرض موږ ستا دغه خبره ومنله او له نورو سره مو اختلافات شاته وغورځول او په ملت مو منګولې ولوګولې.. انسان خو د ژوند د بقا او دوام له

پاره د مال ګټلو ته اړتيا لري. د مال د تر لاسه کولو کې ځينې يوه تګلاره غوره کوي ځينې بله.. کمونېستان وايي چې د توليد وسايل به د دولت په لاس کې وي او خلکو ته به د ضرورت په اندازه هر څه ورکوي.. کپټلستان وايي چې نه هر څوک پوه شه او کار يې چې څومره ګټي او که يې نه شي ګټلای، دلته موږ بايد کومه تګلاره غوره کړو؟

نو انسان مجبور دی چې يو کامل فکر ومني او ورته کار وکړي، يوازې ژبه او خاوره نه شي کولای د انسانانو فکر جوړ کړي.

## درسونه

- اسلام مسلمانانو ته تر هر څه مخکې دی.. مسلمان د اسلام له پاره د ځان او بل هر څه قربانۍ ته بايد تيار وي.
- اسلام د انسان فطرت سره چې د وطن مينه په کې ده، مخالفت نه کوي، خو دا چې يو څوک په حق او باطل کې د خپل ملت په خوا وي او ملاتړ يې کوي، دا اسلام ردوي.

- يوازې اسلام انسان ته د حقيقي کاميابۍ لار ښودلای شي.. او يوازې مسلمان دی چې په حقه لار روان دی، د ناقص انساني عقل محصول فکرونه انسان ته کاميابي نه شي ورکولای.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# د یهودو د خیانت تاریخ


د اسلام د پیل په ورځو کې، په هغه وخت کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم قریشو له خپل اصلي وطنه (مکې) واېست او مدینې ته یې په هجرت مجبور کړ، د خدای رسول خپل خوږ وطن ظالمانو ته پرېښود او مدینې ته مهاجر شو. په مدینه کې مشرکین او یهود اوسېدل. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله په مدینه کې لومړی گام کېښود، د اسلامي دولت په تاسیس یې پیل وکړ. لومړی یې جومات جوړ کړ او بیا یې د دولت د تکمیل له پاره یو قانون جوړ کړ، چې د مسلمانانو، یهودانو او مشرکینو تر منځ و.

مسلمان چې کومه خبره کوي، په هماغه خبره ولاړ وي او له هېڅا سره منافقت او جفا نه کوي. مسلمانانو چې په قانون کې څه لیکلو په هماغه ولاړ وو، خو یهود داسې نه وو. یهود له لومړۍ ورځې په دې تمه وو چې کله داسې ورځ راشي چې قانون مات کړي. یهودو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ډېرو سختو شرایطو کې قانون مات کړ او خیانت یې وکړ. د یهودو خیانتونه څو وارې تکرار شول. رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودان له هېواده وشړل چې له غم او غدر یې خلاص شي.

له دې وروسته یهودو د ځمکې له پاسه داسې ځای نه لاره چې خپل دولت په کې جوړ کړي. په نړۍ کې په مختلفو هېوادونو کې پراته وو. له ۱۹۱۷ میلادي کاله تر ۱۹۴۷ میلادي پورې انګلستان تصمیم ونیو چې د نړۍ یهودان فلسطین ته راټول کړي او یو ځانګړي دولت ورته جوړ کړي.

یهودو کلونه پخوا د دغو مقدسو ځمکو د اشغال اراده کړې وه، چې په ۱۹۴۷ میلادي کال کې وتوانېدل د فلسطین یوه برخه اشغال کړي او ملګرو ملتونو کې د اسراییل په نامه غیر قانوني هېواد جوړ کړي. په ۱۹۴۸ میلادي کې اسراییل رسما خپل دولت اعلان کړ، په داسې

حال کې چې د فلسطین یوه لوېشت ځمکه کې یې حق نه لاره. عجیبه خو دا وه چې ملګرو ملتونو کې هم د اسراییل غیر قانوني دولت جوړېدل ومنل شول.



یهود یوازې په هغې ځمکې اکتفا ونه کړه، بلکې د فلسطین یوه لویه برخه یې بیا هم ونیوه. په ۱۹۶۷م کال کې مصر، سورېې او اردن وغوښتل په اسراییل برید وکړي څو نیول شوې ځمکې تر آزادې کړي، خو دا چې هغوی په اسلامي احساس دغه جګړه پیل نه کړه او د ملت پالنې احساس پرې غالب و، ورسره یې دیني اصول هم مراعات نه

کړل، عربانو شرموونکې ماته وخوړه. اسراییل ډېر پراخ شو. له مصر نه یې هم ځمکه ونیوه، له سوریې او ردن هم. اسراییلو په همدغه جګړه کې د مسلمانانو لومړی قبله اقصی جومات هم اشغال کړ، چې څو وارې یې د ورانولو اراده وکړه او لا یې هم تخریب او بې حرمتي کوي.

په ۱۹۷۳ میلادي کال کې مصر او سوریې بیا په اسراییل برید وکړ، دا وار که څه هم عربي پوځونو اسراییلو ته پوځي او مالي ځیانونه ورسول، خو نیول شوې ځمکې بیا هم آزادې نه شوې.

تر دې چې د مصر او اسراییل تر منځ په کال ۱۹۷۹ د کېمپ ډېوډ په نامه یو تړون لاسلیک شو. نور عربو هېوادونو له دغه تړون سره سخت مخالفت وښود او د عربي هېوادونو له اتحادیې یې د مصر غړیتوب وایست. د مصر د وخت د باندېنیو چارو وزیر محمد ابراهیم کامل له تړون سره مخالف و، سادات ته یې وویل چې دغه تړون باید لاسلیک نه شي، خو سادات یې خبره ونه منله، نو هغه هم استعفا ورکړه.

په تړون کې له ۱۹٦٧ میلادي کاله مخکې نیول شوې ځمکې اسراییل ته ورکړل شوې او اسراییل رسما د یوه قانوني دولت په څېر وپېژندل

شو! په دغه تړون کې لیکل شوي وو چې اسراییل باید د ۱۹۶۷ کال نیول شوې ځمکې پرېږدي، ځکه نړیوال قانون هم همدا خبره کوي، خو اسراییل له سینا څخه پرته نورې ځمکې پرې نه ښودې. بلکې هره ورځ اورو چې اسراییل د مسلمانانو مقدساتو ته اهانت کوي او اسلامي تاریخي ځایونه تخریبوي.

نن اقصی د یوه بل صلاح الدین ایوبي په تمه ده چې دغه جومات د یهودو له اشغاله خلاص کړي. اقصی د داسې ډلې په تمه ده چې په پاک اسلامي احساس له یهودو سره جنګېږي او خپله مقدسه خاوره ونیسي. نه داسې څوک چې د ژبې او قوم له پاره جنګېږي.

خو موږ باید یوازې د دې په فکر نه وو چې جنګ وکړو، ځکه جنګ تیاری غواړي، موږ باید له هر څه مخکې ځان یوه کړو او متفق شو چې ستونزې مو حلي کړو او اسلامي خاورې بېرته راخپلې کړو.

## درسونه

- له هغې ورځې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبر شوی، د یهودو دښمني هم پیل شوې او تر ننه د مسلمانانو د وژلو او مقدسې خاورې د لمنځه وړلو په فکر دي.

- یهودو تل له مسلمانانو سره خیانت کړی او تړونونه یې مات کړي. دغه تړونونه هم د رسول الله په وخت کې مات شوي او هم په اوسني عصر کې.
- د اقصی جومات آزادول د هر مسلمان فریضه ده. هر مسلمان باید د اقصی د آزادولو له پاره ځان تیار کړي او په دغه لاره کې هڅې وکړي.
- له دښمنانو سره د مقابلې لومړی شرط د پوهې تر لاسه کول دي.

**گرانو لوستونکو!**

**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانگړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# ښه دوستان

د پلار مرحوم د وفات په وخت کې مې مشرورور پنځه کلن و، ورپسې څلور کلن، زه درې کلن او کشر نهه میاشتنی. د خدای بښلي پلار د دوکتورا بحث لیکلو وروستۍ شېبې وې. دا چې هغه محصل و، ایله دومره عاید یې و چې د زده کړې او کور لګښت وشي. نو نغدې پیسې یې ډېرې نه وې.

نو له وفاته وروسته یې کورنۍ ته نغدې پیسې په میراث پرې ننه ښودې. خو یو کتابتون یې و چې قیمتي کتابونه په کې وو او د کور وسایل هم پاتې شول.. هغه وخت کې موږ په سعودي کې اوسېدو.. کله چې پلار وفات شو، نو د کورنۍ د مشرۍ له پاره محرم

خپلوان په سعودي کې نه وو، ځکه مشرانو اراده وکړه چې پاکستان ته کډه شو.

کورنۍ مو پاکستان ته راغله او د جلوزو په نامه د مهاجرینو په کمپ کې مْشت شوو.



مشرانو په سعودي کې د پلار کتابتون او د کور وسایل خرڅ کړل او موږ ته یې پیسې راواستولې. د کتابتون او کور وسایل مناسبې پسې شوې. دومره پیسې په هغه وخت کې موږ ته کفایت کاوه او زموږ د راتلونکې اوږدې مودې له پاره تضمین و.

پلار مرحوم که څه هم نغدې پیسې نه وې پرې ایښې خو داسې دوستان یې وو، چې تر ننه -چې د پلار له وفاته یو ویشت کاله تېر شوي- یې موږ ته مادي او معنوي خیر رارسېدلی. مادي مرستې.. علمي هڅونې.. ښې سپارښتنې او لارښوونې یې تر ننه موږ ته د لارې مشالونه دي.

هر انسان دوستان لري.. د انسان انسانیت د دوستۍ تقاضا کوي، خو ځینې دوستان د مجلس د خندولو دوستان وي.. ځینې د یوه مادي مطلب.. ځینې د قحت الرجال له امله دوستان شوي وي، خو داسې دوستان هم شته چې حقیقي دوستان بلل کېږي.. دا دوستان په خیر و شر، لوږه و تنده، غم و خپګان او په بل هر ډول حالت کې له انسان سره مله وي.. خپل دوست ته خیر غواړي او شر پرې نه لوروي..

د پلار مرحوم ډېرې دوستان د حقیقي دوستانو په کټګورۍ کې راتلل. هغوی د خپل دوست له وفاته وروسته د هغه له یتیمانو او کورنۍ سره داسې مرسته وکړه، چې ژوند یې ورته جوړ کړ..

دا مهمه نه ده چې د چا څومره مرسته ده او د چا څومره.. هره مرسته مادي ده او که نه.. مهمه دا ده چې څوک څومره لوریېنه لري..

د پلار مرحوم دوستانو په مور ډېر څه لورول او له نېک امله ډېری یې علمي کسان وو، چې مور ته یې هم لاربښوونه علمي وه.. که د چا ملګری دوکاندار او یا ډرېور وي، خپل دوست ته به په خپل مسلک کې لاربښوونه وکړي. د پلار مرحوم دوستان علمي کسان وو چې له مور سره یې ډېری مرستې او لاربښوونې په علمي اړخ کې وې.. هڅونې یې تل په علمي برخه کې وې..

د همدغو دوستانو له برکته او د مور د حکمت له مخې مو وکولای شول، د اسلام آباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې زده کړې وکړو.. دا د خدای رحم، د مور هڅې او د پلار د دوستانو مرستې وې..

په مرحوم پلار دې سل رحمته وي چې له ځانه وروسته یې مور ته علمي دوستان راپرېښودل چې د علم لارې ته یې برابر کړو..

که د پلار دوستان ستر تجاران وو، ستره مرسته به یې دا وه چې یو تجارت به یې راته جوړ کړی و او د آرام ژوند لارې چارې به یې راکتلې

وې، خو د خدای په فضل د پلار ملګري علمي شخصیتونه وو چې مور يې هم د علم په لارې ودرولو..

نو ښه دوستان ځومره ستر نعمت دی.. آن که څوک له نړۍ هم رخصتېږي، آل و عيال يې خوارۍ ته نه پرېږدي او ښې لارې ته يې برابروي.

## درسونه

- هر انسان بايد هڅه وکړي چې ښه ملګري ولري. ځکه ملګري د انسان په ژوند کې ډېر تاثير لري، همدا ده چې خلک وايي: که غواړئ څوک وپېژنئ، نو د ملګرو ته يې وګورئ چې څنګه خلک دي!
- بايد خپلو ملګرو ته وفادار واوسو او ملګرو سره بايد د مطلب ملګرتيا ونه کړو.

**ګرانو لوستونکو!**

**د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.**

# مسلمانان ولې وروسته پاتې؟

کله مو د مسلمانانو د وروسته پاتې توب په هکله فکر کړی؟ که مو فکر کړی وي، کومې پایلې ته ورسېدئ؟ او که ورته نه یاستئ ځیر شوي، اوس یې په هکله فکر وکړئ!

ستاسې د فکر په څېر، د اسلامي نړۍ مفکرینو هم دا ډول فکرونه کړي، ځکه هر یو په دې باور دي چې مسلمانان د بدبختۍ په حالت کې ژوند کوي او له دې حالته باید ځان وباسي. نو له دوی به خلکو پوښتنه کوله چې څنګه دا حالت بدل شي؟ د هر مفکر او ستر شخصیت فکر بېله پایله لرله.

ځینو ویل چې مسلمانانو دا فکر لاره چې موږ په خپل اختیار نه یو.. هر څه چې موږ ته مقرر شوي هغه رارسېږي.. نو دوی د پرمختګ په لور هڅې پرېښودې، ځکه ویل یې که پرمختګ راته مقرر شوی وي، پرمخ به لاړ شم او که نه، هسې هڅې بې ځایه دي!

ځینو ویل چې مسلمانانو کې بې اتفاقي یا اختلاف، د پرمختګ ستر مانع دی، ځکه که کوم ملت په خپلو کې سره جوړ نه وي او یو له بل سره دښمني لري، حتمي ده چې دښمنان ترې ګټه پورته کوي او دوی بد استعمالوي، چې دا د امت په وروسته پاتې والي کې ډېر مهم واقع کېدای شي!

ځینو نورو مفکرینو ویل چې مسلمانان له علمه لرې شول، فکر کول یې پرېښودل، ځکه یې تخلیق ونه کړ او ورو ورو وروسته پاتې شول، نو مسلمانان که غواړي پر مخ لاړ شي، له هر څه دمخه دې پوهې ته توجه وکړي.

سید جمال الدین افغاني ویل چې ستر اسلامي دولت لمنځه لاړ او په مسلمانان پردي حاکمان شول، نو پردي خلک کله غواړي چې

مسلمانان پرمخ لاړ شي، له همدې سره مسلمانانو د وروسته پاتې توب په لور حرکت وکړ او پرمختګ په ټپه ودرېد.

ځینې نورو پوهان مختلف نظرونه لرل.

تاسې څه فکر کوئ چې کوم نظر ډېر مهم دی؟ او کومې خوا ته باید توجه وشي؟

مورډ او تاسې باید د دې پر ځای چې خپل شخصیتونه ورټو، د دوی له پوهې ګټه پورته کړو.. کېدای شي د یوه نظر ډېر مهم وي او د بل لږ. خو موږ باید ټولو نظرونو ته په درنښت قایل شو او د ټولو تشو په ډکولو ځانونه بوخت کړو.



په دغو نظرونو کې هر یوه یوې سترې تشې ته ځیرنه کړې. نو موږ باید د ټولو تشو په لور توجه وکړو څو پرمخ لاړ شو.

یو ځوان یا یو ماشوم باید د پوهې په لور توجه وکړي. ځکه پوهه د هر انسان اساس جوړوي او چې اساس جوړ نه وي، د ستر هدف د تر لاسه کولو هیلې هم نه شي تر سره کېدای.

مسلمان ځوان باید ځان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي. پوهه مسلمان ته تر هر څه ضروري ده. همدا ده چې اسلام هم پوهه په انسان فرض کړې.

نن سبا چې غرب دومره پرمختګ کړی، د پوهې او نوښتګر فکر پایله ده. غرب ډېرې جګړې وکړې، خو په جګړه پرمخ لا نه ړل. مګر کله چې یې پوهې ته مخه کړه، ډېر څه یې وکړل. د دوی د پوهې نتیجه ده چې دوی په نړۍ حاکمان دي.

مسلمان ځوان چې کله پوهه لاسته راوړي، بیا نورو تشو ته توجه کولای شي او حلولای یې شي او که پوهه نه وي، د هېڅ مشکل د حلولو توقع به نه کېږي.

## درسونه

- مسلمان ځوان باید د خپل امت د مشکلاتو په هکله فکر او څېړنه وکړي.

- باید د مشکلاتو د حلولو له پاره کار هم وشي، یوازې فکر او څېړنه هم کفایت نه کوي، خو پوهه سړي ته د کار کولو لار ښايي.
- د نن عصر مسلمانانو ستر مشکل د پوهې نشت دی او چې پوهه مو نه وي تر لاسه کړې، د پرمختګ تصور هم نه شو کولای.
- هر څوک باید د پوهې د لاسته راوړلو له پاره شپه او ورځ هڅه وکړي.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# د حنفي فقهې درې ستر کتابونه


اسلامي فقه کې او په تېره بیا حنفي فقه کې ډېر زیات نابغه ګان شتهد دي. د همدغو نوابغو برکته نن زموږ په لاس کې ډېر ستر فقهي کتابونه دي. د دغو کتابونو په ارزښت هر څوک نه پوهېږي، ځکه خو ځینې خلک دغه ستر نوابغ بد یادوي. په داسې حال کې چې دغه شخصیتونه او دغه کتابونه زموږ د تېر تاریخ ویاړ دی.

اسلامي علمي تاریخ کې ډېر زیات مهم علمي کتابونه شته. که موږ د دغو کتابونو یوازې په نوم هم کفایت وکړو دغه کتاب به پرې ډک شي، خو له ټولو تېرېږو، یوازې د درې کتابونو په هکله یې لنډ معلومات ذکر کوو:

## ۱- المبسوط:

مبسوط په حنفي فقه کې ډېر مهم او علمي کتاب دی. دغه کتاب که څه هم په سختو حالاتو کې لیکل شوی و، خو دغو حالاتو د لیکوال دقت او نبوغ ته هېڅ ضرر نه دی رسولی او د خدای په فضل د کتاب په لیکلو کې ډېر بریالی و.

مبسوط ستر فقیه امام ابو بکر شمس الائمة سرخسي لیکلی. امام سرخسي د حنفي فقهې یو له مشهورو امامانو دی او دغه کتاب یې په حنفي فقه کې ځانګړی ځای لري. یاد امام په پنځمه هجري پېړۍ کې افغانستان کې –چې هغه وخت کې خراسان بلل کېده- زېږېدلی. امام سرخسي په خپله پوهه او ذکاوت ډېر شهرت وموند او په هر ځای کې خلکو پېژانده، نو خبره یې ډېرو خلکو منله.



امام سرخسي ډېر سترګور عالم هم و. د حق په وینا کې له هېڅا نه ډارېده. یو وار د وخت حاکم د اسلام مخالف کار وکړ، سرخسي ورته وویل چې دا کار د دین مخالف دی نو ته یې باید ونه کړې.. حاکم چې ډېر مغرور سړی و، د امام سرخسي خبره یې ډېره بده وګڼله او وېرېده چې خلک د امام سرخسي د خبرې له پاره د پاچا مخالف نه شي، نو امر یې وکړ چې امام له خلکو لرې په یوه څاه کې بندي کړي!

امام سرخسي څوارلس کاله په دغه څاه کې بندي پاتې شو! خو حاکم دومره وکړل چې د امام شاګردانو ته یې اجازه ورکړه چې د امام خبرې واوري او ویې لیکي. نو شاګردان به یې تل ورتلل. امام به دوی ته له څاه فقه ویلې او دوی به لیکله. په دغه وخت کې یې د اسلامي نړیوال قانون په هکله د امام محمد السیر الصغیر کتاب په څلور جلدو کې شرحه کړ.

مبسوط هم امام سرخسي په همدغه څاه کې خپلو شاګردانو ته ویلی او هغوی لیکلی. مبسوط کتاب په دېرش جلدو[1] کې خپور

[1]- چاپونه مختلف دي، ځینو کې دېرش جلده دی، ځینو کې شل دی. ځینو نورو کې کېدای شي له دې هم بدل وي.

شوی. مهمه نه ده چې کتاب څو جلده دی، مهمه دا ده چې سره له دې چې له امام سرخسي سره مصادر نه و او په آرام ځای کې نه و ناست، دومره مهم کتاب یې ولیکه چې نن عصر ستر استادان او پروفیسران ترې زښت ډېر متاثر دي.

یو عالم په افسوس وایي چې امام سرخسي چې په څاه کې دومره مهم کتابونه ولیکل، کاشکې آرام او راحت ځای کې کېنول شوی و، بیا نو خدای پوهېږي چې هغه به یې څه ډول کتاب لیکلی و!


امام شمس الائمه سرخسي ته دې رب اوچت جنتونه ورکړي چې په ډېر سخت وخت کې یې موږ ته دغسې کتاب او ځینې نور هم ولیکل.

## ۲- الهدایه:

هدایه هم د حنفي فقهې یو له هغو کتابونو دی چې خلک ترې د سرچینې او مصدر په شکل ګټه پورته کوي. عموما په دیني مدرسو کې د حنفي فقهې د پوهې له پاره هدایه درس ورکول کېږي.

هدایه امام برهان الدین مرغیناني لیکلی. یاد امام د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه له اولادې دی. په کال ۵۱۱ هجري کې په فرغانه کې زېږېدلی دی او له خپل ماشومتوبه یې د علم زده کړه له سترو علماو پیل کړه.

کله چې امام ډېره پوهه تر لاسه کړه او یو ستر مقام ته ورسېد، نو ویې غوښتل چې د علم شاګردانو ته دغه کتاب وړاندې کړي.




امام مرغیناني د هدایې په لیکلو شروع وکړه او په دیارلس کالو کې ولیکله. هغه ډېر متقي انسان و. ویل کېږي چې د هدایې لیکلو په مهال دیارلس کاله مکمل روژه و. هغه نه غوښتل چې خادم یې هم پرې پوه شي چې امام روژه دی. کله چې به هغه ورته ډوډۍ راوړه، نو امام به خپله

ډوډۍ شاگردانو ته وړاندې کړه چې خادم پوه نه شي چې دی روژه دی!

امام مرغیناني په دومره تقوا دغه کتاب ولیکه، څکه د علماو په منځ کې ډېر مشهور شو او د علم یو مهم مصدر وگرځېد.

امام برهان الدین مرغیناني نور ډېر کتابونه هم لیکلي چې هر یو یې په حنفي مذهب کې ډېر مهم ځای لري. له دغې سترې علمي ډالۍ وروسته امام مرغیناني په کال ۵۹۳ هجري کې وفات شو. جنت یې ځای شه.

## ۳- بدائع الصنائع:

بدائع الصنائع هم د تېرو دوو کتابونو په څېر د حنفي فقې ډېر مهم مرجع بلل کېږي. بدائع الصنائع د فقهې ستر کتاب دی چې ډېرو دقیقو مسائلو ته په کې اشاره شوې، د همدغه کتاب په رڼا کې موږ کولای شو د نن ورځې ډېر مسائل ځواب کړو.

بدائع الصنائع امام کاساني لیکلی دی. امام ابو بکر بن مسعود الکاساني په ترکستان کې زیږېدلی دی. په ډېرو ځایونو گرځېدلی او له اوچتو علماو یې پوهه لاسته راوړې.

یو وار امام کاساني سوریې ته لاړ، د هغه ځای علما پرې راټول شول او په علمي مسایلو کې یې سره بحث پیل کړ، امام کاساني په هره مسئله کې د خپلو فقهاو نظر بیانانوه چې هغوی یې حیران کړل.

بدائع الصنائع د کاساني رحمه الله د استاد علاء الدین سمرقندي د کتاب شرحه ده. کله چې یې بدائع الصنائع ولیکه او خپل استاد سمرقندي ته یې وړاندې کړ، استاد یې دغه کتاب ډېر خوښ کړ، نو خپله فقیهه لور فاطمه یې ورته واده کړه او مهر یې همدغه کتاب شو.



کله چې فاطمه وفات شوه، امام کاساني ډېر غمجن شو او د هرې جمعې په شپه به یې د خپلې مېرمنې د قبر زیارت کاوه. امام په ۵۸۷ هجري کال کې وفات شو او په سوریه کې د خپلې مېرمنې په څنگ کې خښ شو.

د وفات په وخت کې یې سورت یاسین لوست، کله چې اووه ویشتم آیت کې د آخرت کلمې ته ورسېد، وفات شو.

خدای دې امام کاساني وبښي او موږ دې له ټولو امامانو سره په جنت کې یو ځای کړي. آمین

## درسونه

- اسلامي فقه کې ډېر ستر کتابونه شته. موږ باید د دغو کتابونو اهمیت وپېژنو او ویې لولو.
- له امام ابو حنیفه نیولې تر امام سرخسي او نورو علماو پورې، زموږ ټولو علماو د هر چا په وړاندې حق ویلی. ځکه حق ویل په عالم فرض دي.

- امام سرخسي د پوهې دومره شوقي وو چې کتابونه یې په یادو یاد کړي وو او آن له څاه یې موږ ته خپله پوهه راورسوله.
- د هدایې لیکوال په ژوند کې وینو چې زموږ امامان څومره تقوا لرله او فقهي کتابونه یې په څومره اخلاص لیکلي.
- د بدائع الصنائع په لیکلو کې زده کوو چې زموږ د علماو لورګانو او مېرمنو هم فقه زده کوله او له ډېرو نرانو زیرکې وې.

گرانو لوستونکو!

د پورتنۍ لیکنې له لوستو وروسته یې په هکله یوه شېبه فکر وکړئ او له فکره وروسته مو چې څه ترې زده کړي وي، په خپلې ځانګړې کتابچه کې یې ولیکئ.

# مراجع


- ابو حامد الغزالي، الموسوعه الحره.
- باكثير، علي احمد. هكذا لقي الله عمر: مكتبه مصر.
- بيت الحكمه، الموسوعه الحره.
- خان، وحيد الدين. الاسلام يتحدى. GOOD WORD BOOKS: نيو دلهي، ۲۰۱۰.
- شيطانيه، الموسوعه الحره.
- الطهطاوي، رفاعه رافع. تلخيص الابريز في تلخيص باريز. الهيئه المصريه العامه: ۱۹۹۳.

- الغزالي، ابو حامد. تهافت الفلاسفه. تحقيق دنيا سليمان. تهران: شمس تبريزي، ۱۳۸۲.
- الغزالي، ابو حامد. المنقذ من الضلال. تحقيق جميل صليبا و كامل عياد. دار الاندلس: بيروت، ۱۹٦۷.
- القرضاوي، يوسف عبد الله. ابن القريه والكتاب. دار الشروق: مصر، ۲۰۰۲.
- الكاساني، ابو بكر بن سعود. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. مكتبه حنفيه: كوټه.
- لكنوي، عبد الحي. الفوائد البهية في تراجم الحنفية. مكتبه عمريه: كوټه.
- محمود، مصطفى. الدين ما هو؟. دار المعارف: قاهرة.
- محمود، مصطفى. السؤال الحائر. دار المعارف: قاهرة، څلورم چاپ.

- مرغيناني، برهان الدين. الهداية شرح بداية المجتهد. مكتبة البشرى: کراتشي، ۲۰۰۸ دويم چاپ.
- ARAB-ISRAELI CONFLICTS. WIKIPEDIA.
- HAMIDULLAH, MUHAMMAD. THE EMERGENCE OF ISLAM. ISLAMIC RESEARCH INSTITUTE: ISLAMABAD, THIRD REVISED EDITION ۲۰۱۰.
- HAMIDULLAH, MUHAMMAD. THE PROPHET,S ESTABLISHING A STATE AND HIS SUCCESSION. PAKISTAN HIJRAH COUNCIL: ISLAMABAD, ۱۹۸۸.
- JAMEELA, MARYAM. ISLAM AND MODERNISM. MUHAMMAD YUNUS KHAN: LAHORE, ۱۹٦۸.

- KHAN, ALI MAHDI. THE ELEMENTS OF ISLAMIC PHILOSOPHY. ASHRAF PRESS: LAHORE, ۱۹۷۳ SECOND EDITION.
- MASUD, MUHAMMAD KHALID. AND WE CHOSE AFGHANI. WWW.MARUF.ORG, ۲۹/APRIL/۲۰۱۲.
- NYAZEE, IMRAN AHSAN KHAN. OUTLINES OF ISLAMIC JURISPRUDENCE. FEDERAL LAW HOUSE: RAWALPINDI, ۲۰۱۰ FIFTH EDITION.
- PARWIZ, G.A. ISLAM A CHALLENGE TO RELIGION. TULU E ISLAM TRUST: LAHORE, ۱۹۸۹ SECOND EDITION.
- RAI, HAMEED A.K. HISTORY OF POLITICAL PHILOSOPHY. AZIZ PUBLISHER: LAHORE, ۱۹۸۱.
- SATANISM. WIKIPEDIA.

- SIDDIQI, MAZHERUDDIN. MODERN REFORMIST THOUGHT IN ISLAM. ISLAMIC RESEARCH INSTITUTE: ISLAMABAD, ۱۹۸۲.

# یادښت

# یادښت

# یادښت

# يادښت